



Ketabton.com

Downloaded from: ketabton.com



**څه ډول کولای شو، چې پر نورو خپل ځان ومنو!**

www.melitahrik.com
0777 400 116

# جاذب او اغېزناک شخصیت

**[پر نورو د اغېز لارې چارې]**

**لیکوال: ډېل کارينګي**

Downloaded from: ketabton.com



**ژباړن: ډاکتر سيف الله غريب يار**

## د کتاب ځانګړنې :

د کتاب نوم: جاذب او اغېزناک شخصيت
ليـــکوال : ډيل کارينګي
ژباړن: ډاکتر سيف الله غريبيار
خپرندوی: د ملي تحريک فرهنګي ټانګه
د خپرندوی پرله پسې نومره: (۱۵)
ډيزاين/کمپوز: عبدالهادي اثر
چاپشمېر: ۱۰۰۰
چاپ وار: لومړی
چاپکال: ۱۳۹۳ل

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



بسم الله الرحمن الرحیم

Downloaded from: ketabton.com



# ډالۍ

دوکتورس نورجماله فيصل ته، چې د الله تعالی ددې آيت پر مصداق [وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ] يې ډېر وخت په خوست کې د ناروغ او پرهر ژلي ولي داسې خدمت کړی، لکه مور چې د خپلو اولادونو کوي او نه يوازې دا چې ناورغ ته يې د ښه کېدا درمل ورکړي؛ بلکې د غريبو او بېوزلو لاسنيوی يې هم کړی او له هغو ناروغانو يې ډېر وخت د درملو روپۍ هم نه دي اخيستي، چې اغلې ته د درملنې لپاره راتلل.

په دومره وړه ډالۍ کې به د اغلې دوکتورس نور جماله فيصل حق ادا نه شي، انسانيت ته په کړو خدمتونو يې کتابونه خبرې کېدلی شي، الله تعالی دې ورته ددې ولس د درملنې لپاره اوږد عمر ورکړي، د شفا لاس دې الله تعالی د غريبو او ناروغانو پر سرونو لکه د سيوري تلپاتې لري.

غريب يار

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ذاتي سحر (اغېز) | ۱ |
| ۲ | موسکا | ۴ |
| ۳ | خوښ خیالات | ۶ |
| ۴ | د نورو هم خیال وساتئ | ۸ |
| ۵ | تحریف او ستاینه | ۱۰ |
| ۶ | زړه راښکونکې خبرې اترې | ۱۲ |
| ۷ | د کمترۍ احساس | ۱۴ |
| ۸ | د انساني فطرت ادراك | ۱۶ |
| ۹ | نورو ته ډاډ ورکول | ۱۷ |
| ۱۰ | سملاسي غوسه | ۱۹ |
| ۱۱ | د هر چا نوم زده کړئ | ۲۲ |
| ۱۲ | د خپل ذات اهمیت | ۲۴ |
| ۱۳ | د نورو د غوښتنو احترام وساتئ | ۲۶ |
| ۱۴ | نورو ته سردردي مه جوړئ | ۲۸ |
| ۱۵ | د نیوکې اغېزمنه لار | ۲۹ |
| ۱۶ | بد مزاجي | ۳۱ |
| ۱۷ | د خپلې موخې پېژندل | ۳۳ |
| ۱۸ | د خیالاتو اهمیت | ۳۵ |


www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com




| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | بې زړه توب | ۳۷ |
| ۲۰ | موږ په غوسه لاسبري... | ۳۸ |
| ۲۱ | خپل مسولیتونه درك كړئ | ۴۱ |
| ۲۲ | تعصب | ۴۶ |
| ۲۳ | د تعصب ماهیت | ۴۸ |
| ۲۴ | د تعصب پیل | ۴۹ |
| ۲۵ | په تعصب کې انفرادي اختلافات | ۵۱ |
| ۲۶ | د تعصب له منځه وړل | ۵۳ |
| ۲۷ | ځان ته مشوره ورکول زده کړئ | ۵۵ |
| ۲۸ | څه ډول پر نورو اغېز وکړو | ۵۸ |
| ۲۹ | هغه هېر کړئ | ۶۰ |
| ۳۰ | هغه وزغمئ | ۶۴ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



**د ژباړن خبرې:**

# اغېزناک شخصیت

په داسې مهال مې د دغې کتاب ژباړه کوله، چې د عمر د ۲۴ کلنۍ، خوارۍ او سختې شېبې مې د ازموینو لپاره شوګیرولې، نه پوهېږم، چې څه ولیکم او څه ووایم؟

اروا پوهنه مې د ښوونځي له دورې خوښېده، هماغې مینې دېته اړ کړی یم، چې په ارواییې لحاظ ناروغ ولس ته مې د ښه ژوند تېرولو او د تسکین ورکولو په خاطر ارواییې کتابونه وژباړم، اغېزمن شخصیت، چې اوس ستاسو په لاسونو کې دی، په دې کتاب کې ټول هغه مهم موضوعات راخیستل شوي دي، چې ستاسو له شخصیت سره اړخ لګوي او د غوره او اغېزمن شخصیت جوړولو او ساتلو لارې چارې په کې ښودل شوي دي.

زموږ په ټولنه کې ډېر خلک غواړي، ځان په ټولنه کې مطرح کړي، ښه شخصیت جوړ کړي، له خلکو سره ټولنیزې اړیکې ټینګې کړي او خلک له خپل شخصیته متاثره کړي، که موږ غواړو ښه شخصیت ولرو، نو په کار ده، چې د غوره شخصیت جوړېدنې اصول او لارې چارې تعقیب کړو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



په پښتو کې دغه ډول کتابونو ته زښته ډېره اړتيا ده، ترڅو زموږ ځوان نسل د علميت، پوهې او استعداد سره سره د يو ښه شخصيت خاوندان هم واوسي.

د دغه کتاب په ايډېټ، پروف او د چاپ تر ماشينه رسېدا پورې ګران او درانه ملګري ليکوال او ژباړن ډاکتر شېر افضل فيض ډېر ستړې وګاللې، دده مينې او مهربانۍ ته مې د مننې الفاظ ګونګ ولاړ دي، فيض صيب دې د ژوند په هره بلا لاسبری لري او د شخصيت په اسمان دې خدای د ستورو په څېر وځلوي.

د مومند خپرندويه ټولنې پر پولادي همت دې برکت وي، رښتيا چې پښتو ادب او پښتنو ته يې د زړه له کومې خدمت کړی، موږ پرې وياړو، له وتلي او باسواده کمپوزګر او ډيزاينګر عبدالهادي اثر څخه ډېره- ډېره مننه، چې کتاب يې په پوره امانتدارۍ سره کمپوز او ډيزاين کړی دی.

په پای کې له هغو ټولو يارانو مننه کوم، چې وخت ناوخته يې هڅولی يم، کتابونه مې لولي او ډاډ راکوي، تاسو ټول په الله تعالی ګران شئ، خدای مو مه کموه، ژوندي اوسئ.

ستاسو د ټولو يار
سيف الله غريب يار
د قوس ۲۷مه، ۱۳۹۳ لمريز

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



خوست - د ګوربزو مرمندۍ

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل د دې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم د دې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو د دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وپتېیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (جاذب او اغېزناک شخصیت) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (ډاکتر سیف الله غریبیار) ژباړلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

فرهنګي څانګه

Downloaded from: ketabton.com



# ذاتي سحر (اغېز!)

ذاتي سحر يا اغېز د هغو ټولو مثبتو او غوره ځانګړنو ټولګه ده، چې په ټولنه کې ډېر لوړ مقام لري، يانې د هر چا خوښېږي او په هر چا په مثبت ډول اغېز کولی شي.

ډېر خلک با استعداده او ښايسته نه وي، خو که هغوی په خپل ذات کې کشش او جاذبيت ولري،نو په هر ځای او هرڅه کې د منلو وړ وي، د هر چا په زړونو کې ځای نيسي او هرڅوک يې خوښوي، ډېر خلک بيا په فطري ډول دا ځانګړنه لري، چې په هر محفل کې د خلکو له درنښت او مينې سره مخېږي او د هر چا مينه پرې راځي.

تاسو له ځان سره فکر وکړئ، چې په تاسو کې دا مثبته ځانګړنه شتون لري، يا نه...؟ يا له نورو سره په ناسته پاسته کې د خلکو خوښېږئ او که کرکه درځنې کوي؟

ډېر خلک ښکلا او ذاتي سحر يا اغېز يو شي بولي، خو دا سمه نه ده، ځکه ښکلا يو شی دی او ذاتي سحر بل شی! تاسو به ډېر کسان ليدلي وي، چې هغوی يو ځانګړی کشش او جاذبيت لري او هر چاته د منلو وړ وي، خو سره له دې دوی دومره سپين رنګه، ښايسته او خوش

Downloaded from: ketabton.com



اندامه نه وي.

که وګورو، نو مالومه به شي، چې ډېر خلک په ټوليز ډول د نورو ظاهري قد و قامت ته ګوري، د ظاهري ښکلا، لباس، وېښتانو او نورو څنې يې اغېزمن کېږي، نو ددې اصل په پام کې نيولو سره بايد موږ په لومړي قدم کې خپل لباس ته پام وکړو.

همېشه بايد د خپل وس له مخې ښايسته او پاک لباس واغوندو او دې ته ډېر پام وکړو، چې لباس مو ډېر خيرن او چټل مالوم نه شي.

د ګرمۍ په موسم کې بايد خپلو کاليو ته ځانګړې پام واړوو، ځکه د ګرمۍ په موسم کې د انسان بدن ډېره خوله کوي، چې له امله يې دکاليو غاړې او لستوڼي ډېر خيرن کېږي او په يو محفل يا له چا سره په ناسته ولاړه کې ښه نه ښکارو، که په دې موسم کې مو سپک عطرونه، باډي اسپرې او نورې ښې خوشبويۍ وکاروو، نو دا کار به نه يوازې زموږ؛ بلکې د نورو لپاره هم په زړه پورې تمام شي.

همدا شان بايد د خپلو څپليو او بوټانو خيال ساتل هم ډېر اړين دي، بايد هڅه وکړو، چې ډېر خيرن والي ته يې پرېنږدو او هر سهار يې بايد پالش کړو.

د بدن د پاکوالي لپاره غُسل (لامبل) ډېر اړين دي، په ورځ کې بايد لږ تر لږه دوه ځلې ولامبو او دوه ځلې خپل غاښونه برش کړو.

که تاسو سګرېټ، پان يا نصوار کاروئ، نو په دې صورت کې لا ډېر د خپلې خولې پاکوالي ته پام واړوئ، ځکه دا توکي د انسان خوله بدبويه کوي او ستاسو په شخصيت منفي اغېزې کوي.

د سر وېښتان همېشه پاک ساتئ او په منظم ډول يې ږمنځوئ، د

Downloaded from: ketabton.com



ښېښو او لاسونو نوکان په خپل وخت پرې کوئ او د پاکوالي يې ځانګړی خيال ساتئ.

دا ټولې خبرې مې ځکه وکړې، چې زموږ بدن هم يوه ببله ژبه لري، زموږ د ناستې – پاستې انداز، زموږ د خبرو او غږېدا انداز، زموږ د خندا او موسکا انداز... دا ټول زموږ د شخصيتونو ترجماني کوي، يا په بله وينا زموږ بدن زموږ د مزاج څرګندونه کوي.

کله چې زموږ مزاج او طبيعت سم وي، نو زموږ په څېره کې به د ډاډ او نورانيت ډېوې بلې وي او ناسم مزاج ولرو، نو په مخ کې به کرکه، وېره او وحشت ليدل کېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# موسکا

ستاسو د پرمختګ او بریالیتوب راز په موسکا کې دی، که تاسو خپلو نږدې او زړه ته در تېرو ملګرو ته پام وکړئ، چې هغوی ستاسو پر وړاندې موسک – موسک کېږي او مینه درسره شریکوي، نو ستاسو د زړه په ژورو کې ډېر ځای نیسي او ډېر ترې اغېزمن کېږئ.

خلک چې کله موسکا کوي، نو له خپل اصلي عمر څخه کم لیدای شي، یانې که زاړه وي، ځوان لیدای شي او که ځوان وي، تنکي ځوان.

دا اصل تاسو په خپله وازمایئ، نو په ښه شان به درته مالومه شي.

موسکا په تاسو کې ډاډ او باور رامینځته کوي او کله تاسو موسک یاستئ، نو په ښه شان سره احساسوئ، چې په تاسو کې ډاډ او باور ډېرېږي، یانې په داخلي ډاډمنتیا او سکون کې مو ډېروالی راولي.

موسکا د انسان د جسمي غړو (اعضاوو) لپاره هم ګټوره ده، په دې سره مو بدني روغتیا ډېرېږي او له بېلا بېلو اروایي او جسمي ناروغیو ژغورل کېږئ.

که تاسو په ستونزمن کار کې یا هره بده پېښه کې خپلې شونډې

Downloaded from: ketabton.com



موسکې ساتئ، نو درپېښې ستونزې مو په خپله هوارېږي، ځکه موسکا د پېښو پر وړاندې ډاډ درکوي، مبارزې ته مو تیاروي او ددې ځواک دربښي، چې در پېښه ستونزه په خورا لږ وخت کې حل کړئ، نو څومره ژر چې کېږي، ځانونه له موسکا سره عادت کړئ او په یو حالت کې هم موسکا مه هېروئ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# خوښ خيالات

هغه شخص چې خپه خيالات لري، ذاتي سحر نه لري او نه ترې څوک اغېزمنېږي.

خپه خيالات او د انسان ذاتي سحر دوه بېلې او متضادې ځانګړنې دي، چې هيڅکله په خپلو کې يوځای والی نه شي کولی.

د خيالاتو خوښ ساتنه کوم ستونزمن کار نه دی، تاسو کولی شئ، په خپل ذهن کې همېشه مثبت او خوښ خيالات وساتئ، خو لږ څه تمرين ته مو اړتيا ده.

هڅه وکړئ، چې هيڅ په خپل ذهن کې ناوړه او بدرنګو خيالاتو ته ځای ورنه کړئ، که تاسو په ژور ډول فکر وکړ، نو درته مالومه به شي، چې هر شی دوه مخونه لري، يو روڼ مخ او بل يې ښايي تياره وي.

موږ بايد همېشه د کايناتو ننداره وکړو، خوښي په کې ولټوو، خوښي ترې ترلاسه کړو، طبيعي ښکلا درک کړو او نړۍ ته همېشه په ښکلي نظر وګورو، چې په دې سره به ډېر ژر د شيانو د تياره مخونو له اغېزو وژغورل شو. ددې لپاره اړينه ده، چې موږ د همېشه لپاره په خپلو ذهنونو کې رڼا او ښکلي خيالات وساتو، روښانه مخونه وګورو

Downloaded from: ketabton.com



او له تيارو مخونو نظر چپ کړو.

له ژوند څخه د خوند اخيستلو او له ښېګڼو څخه د خلاصون لپاره تر ټولو غوره لاره چار دا ده، چې موږ بايد د هرې معاملې او چارې لپاره د روښانه مخونو د لټون هڅه وکړو.

په ناخوښه (نا مساعدو) حالاتو کې په کور د کېناستلو، نهيليو او يا د ژوند له ورځنيو چارو څخه د لاس پر سر کېدو لپاره کومه اړتيا نه شته، په داسې حالاتو کې بايد موږ همېشه د ژوند په روښانه اړخونو (مخونو) فکر وکړو او راياد يې کړو.

که تاسو دا تمرين ترسره کړ او بيا بيا مو تکرار کړ، نو وبه ګورئ، چې په دې سره ستاسو حوصله، هوډ او جذباتو کې څومره توان پيدا کېږي او تاسو ته بهددې ځواک درکړي، چې د مايوسۍ يا نهيلۍ پرځای مخکې – مخکې قدمونه واخلئ او خپل ذاتي جد و جهد ته دوام ورکړئ.

انسان د فطرت يو عجيبه مخلوق دی، ځکه ډېر ژر نعمتونه هېروي، خو مصيبتونه يې بيا د ژوند ترپايه په ياد وي. ښايي همدا لامل وي، چې انسانان د خپل ژوند ډېره برخه په اندېښنو او خپګانونو کې تېروي.

که تاسو دا خوی لري، ژر تر ژره يې پرېږدئ او له ځان سره کلکه وعده وکړئ، چې په راتلونکي کې به د خپلو نعمتونو او نېکمرغيو شمېر کوئ، په دې سره ستاسو په ذهن کې خوښ خيالات روزل کېږي، وده کوي او ستاسو په ذاتي سحر (اغېز) کې بې کچې ډېروالی راولي.

Downloaded from: ketabton.com



# د نورو هم خيال وساتئ

تاسو به په خپل ورځني ژوند کې څو- څو ځلې تجربه کړې وي، چې کوم خلک پروا نه ساتي، څومره ترې خپه کېږئ او څومره ګيلې مو ترې کېږي، نو پر همدې اساس که تاسو غواړئ، په ځان کې يو کشش او جاذبه رامينځته کړئ او د نورو د خوښې وړ وګرځئ، نو د نورو خيال وساتئ.

تاسو د يوې شېبې لپاره په خپل زړه لاس کېږدئ او فکر وکړئ، چې کله مو هم د نورو د احساساتو، جذبو، ارامتيا، سوکالۍ او خوشحالۍ خيال ساتلی دی؟!

که تاسو د نورو احساسات وستايل، هغوی به ستاسو احساسات وستايي او د بر ژر به يې په زړونو کې ځای پيدا کړئ.

په ټوليز ډول د پخوانيو خويونو پرېښودل او د نوو خويونو خپلول يو ستونزمن کار دی، ښايي چې دا کار په لومړيو کې ستاسو لپاره ډېر ستونزمن وليدای شي، خو تاسو ترې مه وېرېږئ او مه ترې په شا کېږئ، سر له ننه له خپل زړه سره کلکه وعده وکړئ، چې نور به هره نوې ورځ يو داسې کار ترسره کوئ، چې هغه به د ځان ښودنې او

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



رياكارۍ نه پاک وي، که تاسو همدې عمل ته دوام ورکړ، نو بالاخره به مو د ښو کارونو ترسره کول خوی وګرځي او ډېر خلکو ته به په خير تمام شئ.

په دې عمل سره ستاسو د ذات درنښت هم ډېرېږي او په خلکو کې به ورځ تر بلې په مثبت ډول اغېز تيتوئ، ياني په ډېر لږ وخت کې به د ډېرو خلکو په زړونو کې ځای ونيسئ.

تاسو بايد همېشه د خپلو ګاونډيانو، خپلوانو، ملګرو او همزولو سره د خير په کارونو کې مرسته وکړئ، څومره چې تاسو د نورو لاسنيوی کوئ، همدومره به ستاسو ذات د نورو لپاره اغېزمن شي.

څه ډول چې تاسو حساس ياستئ، همداسې نور هم دي، څه ډول چې د ځان په اړه ښه نظر لرئ، همداسې يې نورو ته هم لرئ، څه ډول چې ځان ته ښه ورځ غواړئ، همداسې يې نورو ته هم وغواړئ.

د نورو له سپکاوي ډډه وکړئ او هيچا ته په سپک او ټيټ نظر مه ګورئ، د بحث او مباحثې پرمهال يوازې پر دې ټينګار مه کوئ، چې فتحه به همېشه ستاسو وي، د نظرونو د اختلاف په صورت کې هيچا ته سپک او تريخ ځواب مه ورکوئ.

په ياد ولرئ، چې اخلاص، مينه، بې غرضي، صله رحمي او مېړانه د انسان په ذات کې يوه نړۍ مثبت اغېز راولي او په انسان کې دا ټولې غوره ځانګړنې هغه مهال رامينځته کېږي، چې کله يې انسان ځانګړی پام وساتي.

Downloaded from: ketabton.com



# تحریف او ستاینه

ایا تاسو د نورو خلکو غوره او مثبتې ځانګړنې یا مثبتې کارنامې ستایلي دي؟ ډاډ مو ورکړی دی، یا ستاسو په ذات کې دا مېړنی خوی شته؟

د یو پراخه زړه لرونکي شخص په توګه د نورو له ستاینې او تشویش سره ځانونه بلد کړئ، که په تاسو کې د نورو د تشویق او سالم ډاډ خوی وي، یا نور د هغوی د ښو او غوره کارونو په ترسره کېدو سره ستایئ، نو بیا په رښتیا سره د یو جادویي اغېز لرونکي شخصیت درلودونکي یاستئ او په هر چا ګران یاستئ.

په نړۍ کې خلک دې اصل ته ډېر اهمیت ورکوي، چې نور یې د غوره کړنو ستاینه وکړي، ډاډ ورکړئ او په دې برخه کې ورسره مرسته وکړئ.

تاسو باید ځان ته هغه موقع رایادې کړئ، چې کله نورو خلکو ستاسو کړه وړه، کارنامې او هڅې ستایلې، تاسو رښتیا ووایئ، چې هغه مهال مو څومره ډاډ، پرځان باورۍ او خوښۍ احساس کاوه او څومره به خپل ژوند، بریا او پرمختګ ته ژمن شوي یاستئ، نو له دې

Downloaded from: ketabton.com



مالومولی شو، چې زموږ خپلوان، د کورنۍ غړي، ملګري او د ټولنې د هرې طبقې افراد زموږ تشويق، ستاينې او مينې ته لېواله او منتظر دي، موږ بايد په هر حالت کې د نورو مثبتې کړنې، ښکلې کارنامې او نوښتګر اعمال وستايو، چې په همدې سره زموږ شخصيت د نورو په نظر کې درونددد او اغېزمن کېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# زړه راښکونکې خبرې اترې

يوه ښځه که هرڅومره ښکلې قد و قامت، ښايسته سترګې، دنګه غاړه، د زړکو قدمونه او په اصطلاح سمه د چين ښاپېرۍ وي، خو چې هغه ببخې خاموشه او چوپ چاپ ناسته وي، نو ښايي خپل مېړه ورسره ډېر ژر په جنجاله واوړي او په زړه کې يې ورسره د مينې کچه رالږېږي.

همدا مثال د نورو خلکو لپاره هم صدق کوي، ياني که څوک هرڅومره غوره والی ولري، خو چې په هر ځای او هر محفل کې ګُم سُم ناست وي، ډېر ژر به دملګرو د کمښت احساس وکړي، ځکه دا ډول ځانګړنه د جاذبيت، کشش او زړه راښکون له پلوه ډېره کمزورې ښودل شوې ده، چې دا ډول کسان له ذاتي اغېز ځنې ببخي محروم ښودل شوي دي.

په هر ځای او هر چېرته چې نور خلک خبرې کوي، په خبرو کې ورسره شريک شئ، که تاسو ته په کې د خبرو اړتيا نه وه، بيا د هغوی خبرې ښې په مينه او لېوالتيا سره واورئ.

تل هڅه وکړئ، چې کله څوک په يوه موضوع بحث کوي، نو تاسو

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



يې خبرې په ډېره مينه او لېوالتيا سره اورئ، کله کله ترې مناسبې او اړونده پوښتنې هم کوئ، چې دا پوښتنې مو له يوې خوا د هغو له خوا په سم ډول ځوابېدلی شي او له بلې خوا ستاسو په مالوماتو کې ډېروالی راولي.

د پوښتنو ترڅنګ د هغوی خبرې او بحث هم ستايئ او ورسره بدرګه کوئ يې.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د کمترۍ احساس

د کمترۍ (د ځان ټیټ ګڼلو) احساس د انسان په ژوند ژور او منفي اغېز غورځوي او د ژوند له خوند یې په بشپړ ډول محروموي.

د کمترۍ نکته په هر چا کې له ورایه ښکاري، که موږ د خپل شاو خوا خلکو ته په ځیر سره پام وکړو، نو په روښانه ډول به د هغوی له خبرو اترو، حرکتونو، کړو وړو او نورو... کې د کمزورۍ (ځان ټیټ ګڼلو) نکته پیدا کړو.

په ډېر تکلیف سره غږېدل، په ډېر لوړ اواز غږېدل، د درس په دوران کې چیغې او بېځایه غوسه، په مخاطب شخص د خپل علمیت د رعب د غورځولو هڅه او داسې نور حرکتونه ټول د کمترۍ د احساس بېلا بېل شکلونه دي.

د اړتیا ډېره عاجزي او یوازېتوب هم ددې سلسلې یوه کړۍ ده، په دې حرکتونو کې انسان په ذهني او شعوري ډول واک نه لري؛ بلکې دا ټول په لا شعوري ډول ترسره کوي او یوازینۍ موخه یې دا وي، چې د خپل شاوخوا خلکو څخه خپلې ذاتي نیمګړتیاوې پټې کړي.

د کمترۍ احساس په اصل کې د ناسم (منفي) فکر پایله ده، ددې

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



احساس بنسټ له کوچنيوالي ايښودل کېږي، که مور، ماشومان د ماشومتوب پر مهال ډېر حقيروو، بېځايه غوسې پرې کوو او په وړو وړو نيمګړتياوو يې له حده ډېر رټو، نو بالاخره په کې د نهيلۍ او کمترۍ احساس پيدا کېږي، چې همدا احساس به ورسره د ژوند تر پايه ملګری وي.

دا سې کسان په خپل ځان باور نه لري، لويو لويو کارونو ته يې زړه نه کېږي او نه يې لاس ورځي، تل په وېره کې وي او په خپل ژوند کې يوازې له دوو شيانو سره بلدتيا لري، چې هغه وېره او ماتې ده.

د کمترۍ د احساس د له منځه وړلو لپاره بايد هر انسان په پوره ډاډ او باور سره د ژوند مبارزې ته ور ودانګي، سختيو، ستونزو او کړاوونو ته غېږه ورکړي او د ماتو (شکستونو) سره سره بايد خپل جد و جهد او مبارزه ژوندۍ وساتي، چې بالاخره يې دا ناوړه احساس له منځه ځي او برياليتوب ته به رسېږي.

موږ بايد په عارضي شکست سره له خپلې مبارزې لاس وانه خلو، ځکه همدا عارضي شکست بيا زموږ د پرمختګ او بريا په لاره کې خنډ کېږي او ژوند مو له لويې ماتې سره مخ کوي.

موږ بايد د ژوند په هر ډګر کې د يو فعال لوبغاړي په څېر ولوبېږو، عارضي ماتې ومنو، خو وېره ترې ونه کړو، تل بايد په خپل ذهن مثبت او خوښ خيالات وساتو، په خپل ذات باور وکړو، د بريا او پرمختګ په اړه فکر وکړو، ځکه همدا فکر مو د برياليتوب سبب ګرځي.

که تاسو په خپل دننه کې د کمترۍ احساس له منځه يوړ، نو په دې سره به ستاسو په شخصيت کې يو بېل غوره والی او کشش

Downloaded from: ketabton.com



رامينځته شي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د انساني فطرت ادراک

همدردي او مفاهمت د انسان په ذاتي سحر (اغېز) کې دوه اړین عناصر دي، که تاسو په ژوره توګه اروا پوهنه ولوسته، نو هله به ددې دوه ټکو په اهمیت او ارزښت پوی شئ.

د اروا پوهنې له مطالعې ځنې موخه دا ده، چې تاسو لومړی په کې د ځان روحیات وپېژنئ او بیا د نورو ارواوې څېړئ، په دې سره د خلکو بېلا بېلو حرکتونه، کړه وړه او خویونه مالومولی شئ او مرسته ورسره کولی شئ.

که تاسو په رښتیا سره د انسان فطرت درک کړ، نو بیا زه په ډاډ سره ویلی شم، چې بیا به هیڅ د نورو په ناوړه حرکتونو یا کړو وړو خپه نه شئ او پر هغوی به د نیوکو پرځای دا ښه وګڼئ، چې مرسته ورسره وکړئ او ارواوې یې ورسمې کړئ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# نورو ته ډاډ ورکول

په نړۍ کې هر کس دا غواړي، چې نور يې په ښه نوم ياد کړي، يا يې په اړه ښکلي خيالات ولري، که تاسو ددې تمه يا غوښتنه لرئ، نو لومړى بيا داسې وکړئ، چې د خپل وس مطابق له نورو سره مينه، خوښي او زړه راښکون شريک کړئ، هغو ته ډاډ ورکړئ، ويې ستايئ، که دا مو وکړل، نو هغوى هم ستاسو خواته ميلان پيدا کوي او ستاسو په اړه به مثبت فکر لري.

ستاسو د سالم ډاډ د نورو پـه ارواوو او استقلال کې پياوړتيا راځي او خپلو موخو ته په اسانۍ سره رسېدلی شي.

موږ بايد پـه دې کلک باور ولرو، چې زموږ هڅې او کوښښونه هيڅکله بېځايه نه ځي، خو د هڅو د پياوړتيا او تحرک لپاره د نورو سالم ډاډ او ستاينې ته هم له حده ډېره اړتيا لرو.

سالم ډاډ د ټولو برياوو مور ده او ټول پرمختګونه د سالم ډاډ په پايله کې رامينځته شوي دي، سالم ډاډ دی، چې د سرک پر سر اخبار پلورونکي هلک نه يې يو لوی شتمن جوړ کړی او له کمزورو او سپکو خلکو څخه يې درانده او پهلوانان جوړ کړي دي.

www.meli tahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



سالم ډاډ د لکونو انسانانو په ژوند کې انقلاب راوستی، په ټپې زړونو یې پټۍ لګولې او میلیونونه انسانان یې له بربادیو، تباهیو او ځانوژنو څنې ژغورلي دي.

چاته په سالم ډاډ ورکولو سره ستاسو کوم لګښت نه راځي، یوازې لږ وخت درڅخه نیسي او لږ پام درځنې غواړي، خو ښایي په دې لږ وخت او لږ پام سره د یو چا په ژوند کې په مثبت او ژور ډول سره بدلون راولئ.

ماشومان او نوي (تنکي) ځوانان ډېر ژر خپل همت بایلي، نو ځکه مور ته په کار دي، چې هغوی ته په بېلا بېلو لارو چارو سره ډاډ ورکړو، مرسته ورسره وکړو، څو هغوی په خپل ذات باوري شي او مخکې لاړ شي.

که تاسو د دفتر مسوول یا مشر یاستئ، نو هڅه وکړئ، چې خپلو مزدورانو او کارکوونکو ته د هغوی په چارو کې ډاډ ورکړئ، ویې ستایئ، چې په دې سره هغوی خپلې ورسپارل شوې چارې په خلاص زړه او ټول پام سره سرته رسوي.

که تاسو پوځي افسر یاستئ، نو خپل عسکر وستایئ، ډاډ ورکړئ، چې په دې سره هغوی د دښمن پر وړاندې زړور کېږي او بل ستاسو له ذات څنې په مثبت ډول اغېزمنېږي.

که ستاسو په ذات کې کشش لرونکی څرنګوالی او جاذبیت وي، نو په هر ځای او هر محفل کې به ستایل کېږئ او هرڅوک به مو زړه له کومې احترام ساتي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# سملاسي غوسه

په وړو وړو خبرو غوسه کول د يوې وېروونکې ناروغۍ مثال لري، په دې ناوړه خوی سره ستاسو ذاتي سحر (اغېز) له مينځه ځي، شخصيت مو ورسره سپکېږي، په اروايي او بدني لحاظ درته ډېر زيان اړوي او له نورو سره مو په دوستانه اړيکو او صميميت کې لړزوالی راولي.

په سملاسي غوسه کېدو څه ډول واکمنېدلی شو؟ د بېلګې په توګه تاسو له خپلو څلورو ملګرو سره يوځای له ښار نه د خپل کور پر لور روان ياستئ، خو له رسېدو وړاندې خپل کوچني ورور ته زنګ وهئ، چې مېلمانه راسره دي، حجره سمه کړه، له چايو ورته ووايه او نور.

خو کله چې له خپلو ملګرو سره يوځای کور ته رسېږئ، نو کوچني ورور مو حجره نه وي سمه کړې، ياني کټونه او مېزونه په کې اخوا دېخوا پراته وي، بالښتونه او توشکې هم په خپل ځای نه وي اېښوودل شوي، پر مېزونو ګردونه پراته وي، نو په دې حالت کې تاسو څه کوئ؟! که تاسو سمدلاسه کور ته ننوځئ او په خپل ورور راباندې کوئ، نو ښايي چې چيغې او سورې مو تر مېلمنو راورسېږي، چې دا

Downloaded from: ketabton.com



ډېر نامناسب کار دی او باید هیڅکله د مېلمنو پر وړاندې داسې ناوړه حرکتونه ترسره نه شي، ښه به دا وي، چې تاسو د سملاسي غوسې پرځای دا فکر وکړئ، چې آخر ولې داسې وشول؟ ښايي ستاسو ورور به بل کوم اړین کار پسې وتی وي، ښايي ستاسو زنګ یې له یاده وتی وي، ځکه له تاسو هم ډېر شیان له یاده وځي، ګڼې فکر وکړئ، چې کله مانښام مهال کورته راځئ، نو څومره شیان درځینې له یاده وتي وي؟ نو په دې حالت کې له مثبت فکر څخه کار واخلئ، مېلمنو ته په مینه مخ وروا ړوئ، وخاندئ او په ډېره صمیمانه لهجه ورته ووایئ، چې ښايي زما له کوچني ورور څنې د حجرې صفايي هېره شوې وي او... په دې کار سره مو نه مېلمانه خپه کېږي، نه ورته ستاسو غرور ماتېږي او هم به له بېځایه غوسې او ناوړه حرکتونو څنې ژغورل شوي وئ، خو که تاسو سملاسي غوسه شوئ، کنځل او بد رد مو پیل کړ، هم به مو مېلمانه خپه وي، هم به مو شخصيت بدرنګ شي او هم به...

زیار وباسئ، چې پورتنۍ بېلګه د ژوند په ټولو چارو کې عملي کړئ، همدا لاره چاره یا اصل مو د بېځایه غوسې مخه نیسي او دروندوالی دربښي.

ځینې کسان ډېر ارام او یخ مزاج لري، خو که بیا هم د اخبار لوستلو، ډوډۍ خوړلو یا بل کار پرمهال ورته زنګ راشي، نو ډېر غوسه کېږي، که په دې وخت کې یې زنګ اوچت کړ، نو په خبرو کې یې هم د غوسې او کرکې نښې لیدل کېږي، که فکر وکړو، نو موږ ټولو ته د شپې د خوب پر مهال، د غُسل پرمهال یا د یوه په زړه پورې فلم، ناول یا نورو پرمهال راته د ټیلیفون زنګ راځي، موږ باید د زنګ د

Downloaded from: ketabton.com



اوربېدلو پرمهال يوازې يوه شېبه دا فکر وکړو، چې آخر چا به په دې وخت کې راته زنګ وهلی وي؟ د کومې اړتيا له مخې به يې راته زنګ وهلی وي، زما په فکر پلانی صيب به وي او د پلاني کار په اړه به يې راته زنګ وهلی وي او زه بايد خامخا په پوره مينه او حوصلې سره ځواب ورکړم.

په دې کار سره ستاسو په خبرو کې پوره خوږوالی او جاذبيت رامينځته کېږي او تاسو ته يې هم ګټه رسېږي، په همدې ډول تاسو د هر کار لپاره همدا سې تګلاره غوره کړئ، ځو ځو ځلې يې تمرين کړئ او له نورو سره يې په خپل ورځني ژوند کې تکرار کړئ، چې په دې سره به ستاسو په مزاج کې ډېر غوره والی رامينځته شي او د نورو په زړونو کې به ډېر ځای ونيسئ.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د هر چا نوم زده کړئ

هر انسان په نړۍ کې د نورو انسانانو په پرتله د خپل نوم سره ډېره مينه لري.

د هر چا نوم يادوئ او په احترام سره يې ورته اخلئ، که تاسې د چا نوم هېروئ، ناسم يې ليکئ، يا يې ورته په ناسم ډول اخلئ، نو دا به ستاسو تر ټولو ستر زيان وي.

د نړۍ ستر شتمن ريو کارينګي دا پاليسي لرله، چې هغه به د خپلو شخصي او سوداګرو ملګرو نومونه په ښه شان سره يادول او په ډېر احترام سره به يې پرې رابلل، هغه به ويل، چې زما د پرمختګ او پر نورو د اغېز لامل مې همدا د نومونو يادول او په ښه شان سره د دوی رابلل دي، هغه د خورا ډېرو کسانو نومونه په ياد و او په دې به يې ويا ړ کاوه او دليل به يې دا و، چې تر اوسه مې په کارخانو او شرکتونو کې کار کوونکو په لاريونونو لاس نه دی پورې کړی.

خلک له خپلو نومونو سره مينه لري او هڅه کوي، چې په ډېر قيمت سره خپل نومونه تر ډېره ژوندي وساتي، له نن نه سل کاله وړاندې به د امريکا او اروپا شتمنو او معتبرو خلکو هغو ليکوالو ته

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



ډېره شتمني وربښله، چې په خپلو کتابونو او لیکنو به یې د دوی نومونه راوستل.

د خلکو د خوښۍ او د هغوی د زړونو د لاسته راوړلو تر ټولو ګټوره او اغېزمنه لاره چار د هغوی د نومونو د یادولو صلاحیت دی، خو په افسوس سره، چې په موږ تاسو کې ډېر شمېر خلک له دې ارزښتمن اصل څخه بې خبره دي.

که له موږ سره یو نابلده شخص خبرې اترې پیل کړي، ځان راوپېژني، خو له رخصتېدو وروسته یې بیا زموږ له ذهن نه د هغه نوم وتی وي.

د نوم یادول په سیاسي، دنده ییزو او ټولنیزو اړیکو کې ډېر مهم رول لري او ددې کار لپاره زموږ قربانۍ ته اړتیا ده، ځکه ایمرسن وایي، چې نېکۍ له قربانیو پیدا کېږي.

نو که غواړئ، چې شخصیت مو درونند او د نورو د خوښې وړ وګرځي او د خلکو د زړونو په ژورو کې ځای ونیسئ، نو د خلکو نومونه یاد کړئ او پوره احترام ورته ولرئ، ځکه هر چاته تر ټولو خوږ اواز د هغه د نوم اخیستل دي.

www.meltahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د خپل ذات اهمیت

په انساني اړیکو کې یو ډېر مهم او پیاوړی قانون شته، که موږ په رښتیا سره دا قانون ومانه او عمل مو پرې وکړ، نو هیڅکله به د نهیلیو، خپګانونو او نا ډاډمنتیاوو ښکار نه شو.

دا قانون زموږ په اغېز او درنښت کې ډېروالی راولي او ټولنې ته مو د یو ښایسته او باوري شخص په توګه ورپېژني.

تر ټولو غوره خو یې داده، چې ددې قانون منل زموږ د ملګرو په ډېر ښه او د خوښیو په لاسته راوړلو کې غوره رول لوبوي، په دې سره زموږ شخصیت په مثبت ډول اغېزمنېږي، خو که څوک ددې قانون پر خلاف عمل ترسره کوي، په پرله پسې ډول به په مصیبتونو او کړاوونو اخته کېږي.

دا قانون دا دی، چې خپل ذات ته هر وخت اهمیت ورکوئ او په درنه سترګه ورته ګورئ.

نامتو اروا پوه پروفیسر جان ډیوس وایي، دا د انساني فطرت تر ټولو ستره او بنسټیزه غوښتنه ده او هرڅوک باید خپل ذات ته پوره پوره اهمیت ورکړي.

Downloaded from: ketabton.com



خپل ذات ته اهمیت ورکول د انساني فطرت تر ټولو ژور اصل دی او په دې اصل کې تر ټولو ډېره اړتیا تعریف او ستاینې ته ده، دا اصل د انسان فطري غوښتنه ده، همدې غوښتنې موږ له ځناورو څخه غوره او اشرف ګرځولي یو او همدا غوښتنه د تهذیب او تمدن د پرمختګ لامل ده.

فلسفیانو له زرګونو کلونو راهیسې د انساني اړیکو اړوند قیاسونه وړاندې کړي دي او دا ټول قیاسونه له یوې نظریې سرچینه اخلي، دا نظریه، چې څومره نوې ده، هغومره پخوانۍ هم ده، له نن نه درې زره کاله مخکې (زرتشت) دا اصول د ایران اتش پرستو ته ورزده کړي و، سلګونه کاله وړاندې کنفیوشس په چین کې دا اصول وړاندې کړي و، خو دا ټول مبلغین یوازې دا درس ورکوي، چې:

(خپل ذات ته اهمیت ورکړئ، له نورو سره داسې کړه وړه ترسره کړئ، څه ډول یې چې تاسو د ځان لپاره له نورو تمه لرئ.)

موږ باید له نورو خلکو سره خوښي شریکه کړو، مینه ورسره شریکه کړو، موږ باید د خپل ځان په غوره والي اعتراف وکړو او دا احساس کړو، چې موږ په دې واړه دنیا کې غوره شخصیت لرو.

په دې سره تاسو خپل ځان ته دوکه نه ورکوئ، خو تاسې د تشویق او ستاینې غوښتنه لرئ او له خپلو ملګرو هم دا تمه لرئ، چې هغوی مو غوره کارنامې د زړه له کومې وستایي، خو ددې لپاره موږ باید په دې اصولو هم عمل وکړو، چې نورو ته هم هغه څه ورکړو، چې د څه چې موږ ترې تمه لرو.

Downloaded from: ketabton.com



# د نورو د غوښتنو احترام وساتئ

په نړۍ کې هرڅوک دا غواړي، چې ورځني کارونه دده په خوښه ترسره شي، په مشورو او پرېکړو يې عمل وشي، غوښتنې يې پوره يا ومنل شي، خو که تاسو په زوره پر نورو خلکو خپل نامشروع نظريات منئ، نو په دې سره مو ذاتي اغېز بربادېږي او د شخصيت اغېز مو هم لږوي.

هيڅوک د هيڅا امرانه اوربدل نه خوښوي او موږ ټول هغه څه خوښوو، چې زموږ د خوښې وړ وي او په خپل اختيار يې ترسره کوو.

موږ ټول د خپلو نظرياتو منونکي يو او وغواړو، چې نور خلک هم له موږ څخه زموږ د غوښتنو، هيلو او خيالاتو په اړه وپوښتني.

له نن نه سلګونه کاله وړاندې يوه چينايي فيلسوف (لازوي) څه ښه ويلي و، چې بحر يا سمندر ځکه د ډېرو سيندونو او لويو وبالو څخه خپل باج اخلي، چې هغه له هغو څخه په ښکتنۍ سطحه کې بهېږي او د خپلې عاجزۍ له مخې په ټولو سيندونو حکومت کوي.

همدا شان هغه خلک هم چې متوضع او عاجزانه مزاجونه لري، د نورو خلکو په پرتله ډېر منلي او جاذب شخصيتونه لري، ځکه دوی له

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



نورو خلکو څخه شاته درومي او هیڅ په خپلو زړونو کې د لویۍ او تکبر احساس نه لري.

داسې خلک هیڅکله نورو ته زیان نه اړوي، همدا لامل دی، چې هیڅوک ورسره په زړونو کې کینه او حسد نه ګرځوي او ټول ورسره مینه لري.

که تاسو غواړئ، چې خلک د حسد پرځای مینه درسره وکړي، نو له نورو خلکو مشورې وغواړئ، د هغوی د نظرونو احترام وساتئ، چې په دې سره به هغوی ټول ستاسو تر شا روان وي او درنښت به مو کوي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# نورو ته سردردي مه جوړوئ

هڅه وکړئ، چې په هرڅه؛ بلکې په هر کار کې نورو ته د سر دردۍ لامل جوړ نه شئ، نورو ته سر دردي جوړول یا مزاحمت کول د انسان ذاتي اغېز په بشپړ ډول معیوبوي او شخص په خپل شاو خوا (ټولنه) کې ډېر ټیټوي.

له مزاحمت کوونکي شخص څنې هر څوک کرکه لري، منډې ترړې وهي او ټولو خلکو ته کم عقله او سپک لیدای شي.

تاسو باید نورو ته د مزاحمت پرځای دا ښه وګڼئ، چې مینه روسره شریکه کړئ، په ساړه سینه هر کار ته ورمخکې شئ او په ځان کې د ښه سرېتوب ټولې لوړې ځانګړنې پیدا کړئ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

# د نيوکې اغېزمنه لار

دا ډېره غوره ده، چې پر نورو هيڅ نيوکه ونه کړئ، ځکه په دې سره ستاسو شخصيت ته ډېره صدمه رسېږي او په منفي ډول يې اغېزمنوي.

دا فطري خبره ده، چې هيڅوک هم پرځان د نورو خلکو نيوکې نه خوښوي، خو که تاسو په نورو نيوکه کول غواړئ، ښه به دا وي چې په خپله نيوکه (تنقيد) کې لږ څه خواږه ورګډ کړئ، چې په دې سره له يوې خوا ستاسو شخصيت ساتل کېږي او له بلې خوا په دويم شخص دومره بده نه لګېږي او په آسانۍ سره اصلاح کېږي.

د امريکا مشهور صنعت کار چارلس شواب يوه غرمه خپلې د فولاد جوړونې کارخانې ته لاړ، ګوري چې څو تنه کارکوونکي (نوکران) يې سګرېټ څکوي، حال دا چې دوی ته پر مخامخ دېوال يو ستر بينر هم راځړېدلی و، چې پرې ليکل شوي و: (د کارخانې په داخل کې سګرېټ مه څکوئ.)

چارلس شواب ددې پرځای چې کارکوونکو ته بد رد ووايي، ويې رټي، يا ورته ووايي، چې تاسو ته په مخامخ دېوال د سګرېټو د

Downloaded from: ketabton.com



ممانعت بينر راځړېدلی، څه ړانده ياستئ، چې بيا هم د کارخانې په داخل کې سګرېټ څکوئ؟ په ډېر ډاډ د هغوی خواته ورغی او هر کار کوونکي ته يې له خپل جېب څخه يو يو سګرېټ ورکړ او په ډېره خوږه لهجه يې ورته وويل، چې تاسو ورته بېرون ووځئ او هلته يې په خوند وڅکئ.

کار کوونکي په دې پوهېدل، چې په کارخانه کې سګرېټ کارول د کارخانې د اصولو خلاف عمل دی، خو چارلس شواب ددې پرځای چې هغوی ورټي، لا يې د دوی درنښت وساته، له هغې ورځې وروسته بيا هيڅ کار کوونکي دا جرئت ونه کړ، چې په کارخانه کې دننه سګرېټ وڅکي او د چارلس شواب له شخصيت څخه هم په بشپړ ډول اغېزمن شول.

تاسو هم که پر چا نيوکه کول غواړئ، لومړی يې ښېګڼې ورته بيان کړئ، ځکه هغوی د خپلو ښېګڼو له اورېدو وروسته ناخوښې خبرې هم په ډېره مينه اوري او د ځان د اصلاح خواته به پام کوي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# بد مزاجي

خپل د شاوخوا خکو ته پام وکړئ، تاسو به د ژوند په هره برخه کې بې شمېره بد مزاجه او ناخوښه خلک ووینئ، چې وجودونه (شتون) به يې خپلو او پرديو ته د يو لوی مصيبت په څېر وي.

دا ډېره پرځای وينا ده، چې د بدمزاجۍ له کبله د وربښمو په څېر نوم زړونه هم کلکېږي، يو بد مزاجه او بد اخلاقه انسان، که هرڅومره ښايسته قد و قامت ولري، خو مثال به يې د هغه مانۍ په څېر وي، چې له بېرون به ډېره ښايسته او رنګينه جوړه شوې وي، خو په داخل (دننه) کې به يې ډېرانونه پراته وي.

دا ډېر روښانه حقيقت دی، چې بد مزاجه او بد اخلاقه کسان خپل هم پردي کوي، خو ددې په خلاف نېک اخلاقه کسان پردي هم خپلوي او هر څوک ورسره مينه ساتي.

بد اخلاقي د يوې وېروونکې او ساري ناروغۍ مثال لري، چې سمدلاسه له يوه څخه و بل ته لېږدېږي، که غواړئ، چې پر نورو مو اغېز ډېر شي او د هر چا د خوښې وړ وګرځئ، نو له هيچا سره ناوړه اخلاق مه کوئ، ناوړو خويونو ته په خپل دننه کې ځای مه ورکوئ او

Downloaded from: ketabton.com



که خدای مه کړه داسې خويونه لرئ، چې هغه په ټولنه کې درد وړوي نو د سالم او پرله پسې تمرين په وسيله يې له ځانه لرې کړئ، ځکه چې ډېر خويونه موږ د تمرين په سيله خپلولی او لرې کولی شو.

ناوړه خويونه زموږ شخصيت بربادوي او ذاتي اغېزمو په بشپړ ډول سره له مينځه وړي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د خپلې موخې پېژندل

په ژوند کې د موخې پېژندل او د هغې د لاسته راوړنې لپاره هڅه کول ستاسو په بریالیتوب او هم د شخصیت په جوړونه، جاذبیت او اغېزمنتوب کې مهم رول لري.

که تاسو موخه وپېژندله، نو له تاسو به یو نوی انسان جوړ شي، ستاسو کړه وړه آن ټولې ورځنۍ لارې چارې به بدلون وکړي او د خلکو په زړونو کې به ستاسو اغېز او اهمیت دوه برابره ډېر شي، ځکه د موخې پېژندلو په حالت کې بیا تاسو د تېر په څېر خپل وخت بېځایه نه مصرفوئ او اوس یې په ارزښت پوه شوي یاستئ.

کوم شخص چې په خپلو کارونو کې بوخت وي او هم د خپلو کارونو په اړه سنجیده وي، نو هرڅوک به یې عزت او درناوی کوي، چې په دې سره یې په خپله شخصیت په مثبت ډول اغېزمنېږي.

ډېر وخت موږ ته دا پته نه وي، چې موږ څه کوو، یا د څه شي په اړه فکر کوو او تر ټولو مهمه خو یې لا دا ده، چې موږ فکر کوو، چې ګنې موږ د خپلو ارادو څخه خبر یاستو، خو موږ ته دا نه وي مالومه، چې خپلو دې ارادو ته عملي جامه ورواغوندو.

www.meliitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



کله چې زه له چا سره د هغه د موخې په اړه بحث کوم، نو زه په دې شک کې لوېږم، چې ښايي کومه تېروتنه ترسره کوم، ځکه چې ډېر خلک د خپل ژوند د موخو په اړه خبر نه دي او نه يې پېژني او آن ځينو خلکو ته خو د خپل ژوند د تېرولو پوهه هم نه وي.

کله چې زه په دې اړه له يو چا سره غږېږم، نو يوې ايرانوونکې پايلې ته رسېږم، ښايي تاسو زما په دې خبره باور ونه کړئ، خو دا يو حقيقت دی، چې ډېرو خلکو به تردې دمه د خپلو موخو په اړه هيڅ فکر هم نه وي کړی.

زه په دې عقيده يم، چې تاسو به هم زما په شان دا ډېر خلک پېژنئ، که تاسو په خپلو ملګرو کې له يوه وپوښتئ، چې ستا په ژوند کې تر ټولو ډېره غوښتنه د (کوم شي د لاسته راوړنې) څه شي لرئ؟ نو وبه ګورئ، چې هغه به ددې پوښتنې د ځوابولو لپاره له ډېر ځنډ څخه کار واخلي.

له دې بحث څخه زما موخه دا ده، چې تاسو هڅه وکړئ، چې په خپل ژوند کې د ځان لپاره موخې وټاکئ، بيا يې د لاسته راوړلو لپاره په منظم او پرله پسې ډول کار وکړئ، موخې مو د ځان لپاره په منظم شکل په يوه کاغذ وليکئ او ترڅنګ يې دا هم وليکئ، چې کله او څه ډول به يې ترلاسه کوئ.

www.meltahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د خيالاتو اهميت

خلک په سم ډول د خپلو خيالاتو پر اهميت نه پوهېږي او نه ورته د ارزښت په سترګه ګوري.

کله چې تاسو خيالاتو ته اهميت ورکړ، له خپلو خيالاتو مو په مثبت ډول کار واخيست، يا تاسو په خپل ذهن کې د يوه شي انځور ويست، نو ځيني خلک به فکر وکړي، چې تاسو ګنې په يو احمقانه عمل لګيا ياستئ، خو دا خبره ناسمه او بې بنسټه ده.

دا سمه خبره ده، چې که تاسو د راتلونکي په اړه ناوړه فکر کوئ، بېځايه او منفي خيالات په خپل ذهن کې ځايوئ، خپګان کوئ، نو تاسو به خامخا په هضمي او د زړه پر ناروغيو اخته کېږئ، ناوړه خيالات او ناوړه افکار د انسان اروا او بدن دواړه هلاکوي او مخکې له وخته يې زړوي او يا يې بې وخته مړينې ته سپاري، خو که تاسو رغوونکي او مثبت خيالات لرئ، د سترو سترو برياوو په اړه فکر کوئ، لوړو موخو ته د رسېدو په اړه فکر کوئ، د غوره ناولونو، پېښو او کيسو په اړه فکر کوئ، نو ټول سم خيالات دي، چې دا ډول خيالات مو بيا اروا تازه کوي، سکون وربښي او په ذهني او بدني

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



لحاظ سره مو پياوړي کوي.

له دې وړاندې چې تاسو شعر وليکئ، يو ښه تصوير ورته په خپل ذهن کې جوړوئ، د ناول ليکلو وړاندې لومړی ورته د ښې سوژې او داستان په اړه فکر کوئ، چې دا ټول تصورات زموږ ژوند تشکيلوي او موږ پر همدې تصوراتو ژوندي يو.

د انجينرۍ په برخه کې تر ټولو سترې کارنامې، نوي نوي ايجادات، مالومات... ټول لومړی زموږ په ذهن کې راغلي او موږ يې په اړه فکر کړی.

په ياد ولرئ، چې خيالات يا زموږ ژوند جوړوي او يا يې بربادوي، خو ددې دواړو پرېکړه زموږ په لاسونو کې ده، ياني که زموږ خيالات مثبت وي، نو ژوند به مو جوړوي او که خدای مه کړه منفي خيالات ولرو، نو ژوند به مو د بربادۍ کندې ته ټېله کوي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# بې زړه توب

بې زړه توب د ملګرتیا آن د ژوند په لاره کې تر ټولو ستر د پوال دی، کوم خلک چې بې زړه دي، د نورو د خوښې وړ نه ګرځي او نه یې په شخصیت کې اغېز او کشش پروت وي.

ډېر خلک د خپل بې زړه توب له امله د ورځني ژوند لارې چارې په سمه توګه نه شي سمبالولی، دوی همېشه کمزوري وي، ځکه چې تل په خپل دننه کې کمزوري او کمتري احساسوي، چې د همدې کمترۍ له امله به په ټول ژوند کې د بریا او پرمختګ مخ ونه ویني.

که موږ له خپل دننه څخه د بې زړه توب حس له مینځه یوړو، نو په هماغه شېبه به د ارامو الي او ډاډمنتیا احساس وکړو او زموږ پرځان باور به ثابت او غښتلی پاتې شي.

که موږ په ډاډ او باور سره د ژوند په میدان کې قدم کېښود، نو په موږ کې به د ډېرو سترو کارونو د ترسره کولو توان پیدا شي، نور خلک به هم پر زموږ باور وکړي او موږ به د یو وړ کس په توګه په خپله ټولنه کې ژوند کولو ته ادامه ورکړای شو.

www.meltahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# موږ په غوسه لاسبري کېدای شو؟

او بـه دا پوښـتنه خامخـا پيـدا کېـږي، چـې آيـا مـوږ پـر غوسـه واکمنېدلای شو، که نه؟

د نـن سبا بـه پرمختللـي دور کـې د انسـان پـر اروايـي ځـانګړنو او خويونو ډېرې ازموينې او څېړنې ترسره شوي دي او مالومه شوې ده، چې انسان په خپلو ډېرو اروايي خويونو واک پيدا کولی شي او له ډېرو ناوړه خويونو څخه پاک او خوږ ژوند ته دوام ورکولی شي.

غوسه هم يو اروايي تشوش، اروايي اختلال يا اروايي خوی دی، چې موږ کولای شو د تمريناتو له لارې پرې واک پيدا کړو او د تل لپاره يې له ځانه وشړو، خو بيا هم بايد ياده کړو، چې دې ته زموږ د کوښښ او عملي اقداماتو ته اړتيا ده.

د غوسې د سړولو لپاره يوه تر ټولو غوره او پرځای لاره چاره زموږ زغم دی، هر چاته په کار ده، چې په خپل دننه کې د زغم ځواک پيدا کړي، په خپل دننه کې جذباتي موازنه وساتي.

کوښښ وکړئ، چې په هره خبره اور وانه خلئ، د هرې خبرې ښه او بد اړخ په سم ډول سنجوئ او په نورمالو مغزو سره پرې پرېکړه کوئ.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



غوسه زموږ اروا او بدن په ډېر ناوړه ډول زیانمنوي، بېلا بېلو ناروغیو ته مو سپاري، زموږ په دننه کې انساني جوهر (مینه) له مینځه وړي او په ټولنیز ډول مو د یو کمزوري انسان په توګه پېژني.

د غوسې یو بل ستر زیان دا دی، چې زموږ د مثبت والي ماده کمزورې کوي او منفي ځانګړنو ته مو لېواله کوي او دې ته مو هڅوي، چې منفي کارونه ترسره کړو.

تاسو کولای شئ، په غوسه واک پیدا کړئ او لږ دمخه مو چې یاده کړه، تر ټولو وړاندې په ځان کې د زغم حس وروزئ او بل هیڅکله د نورو په وړو وړو خبرو مه خپه کېږئ، که تاسو وړې وړې خبرې ځان ته لویې نه کړئ، نو ورو ورو به په تاسو کې یو توان پیدا کړي، تردې چې بیا به هیڅکله په یو خارجي تحریک سره نه عصباني کېږئ او په سړه سینه به د هرې موضوع حل و فصل ګورئ.

کله چې تاسو له یوې ناخوښې پېښې یا خبرې سره مخ کېږئ، نو ددې پرځای چې بېځایه غوسه کوئ، ښه خبره دا ده، چې څو دقیقې نومړې پېښه یا نا خوښه خبره تجزیه کړئ او وګورئ، چې نومړې پېښه په دې ارزي، چې تاسو له ځانه دومره عصبانیت په کې وښیئ او خپله بدني توان په کې ضایع کړئ؟ که چېرې خبره دومره نه وه، نو په سملاسي ډول هغه له ذهن وباسئ او ارام وکړئ، که کومه خبره د اهمیت وړ وه، نو هغه بیا په سړو مغزو سره حل کړئ، ددې پر ځای چې تاسو خپل توان په منفي عمل (غوسه) لګوئ، په مثبت عمل (د حل کولو په لاره) یې ولګوئ، چې مثبتې پایلې ته ورسېږئ.

دا ډېره اړینه ده، چې د ډېر عصبانیت یا غوسې په حالت کې کوم

Downloaded from: ketabton.com



اړین کار ترسره نه کړئ، د غوسې پر مهال کوم مجلس یا د یوه ملګري خواته مه ځئ، تر هغې چې ستاسو ماغزه په بشپړ ډول یخ شوی نه وي، یوازې په یو ارام ځای کې پاتې شئ او اوږدې اوږدې ساه ګانې واخلئ.

که د غوسې په حالت کې په سملاسي ډول د لانجې په حل فکر نه شئ راټولولی، نو غوره دا ده، چې کوم بل جسماني کار پیل کړئ، په دې کار سره ستاسو پام او توان په بله اوړي او شونې ده، په خپله غوسه واک پیدا کړئ.

د غوسې په حالت کې کوښښ کوئ، چې ذهني سکون ترلاسه کړئ، خپل دماغ له چټلو خیالاتو پاک کړئ او هیڅ ناوړه فکر ته وخت مه ورکوئ، چې ستاسو په ذهن کې ځای ونیسي.

که چېرې له کوم داسې حالت سره مخ شوئ، چې د هغې حل په خپله نه شئ ایستلای او تاسو په پرله پسې ډول تحریکوي، یانې غوسه کوي مو، نو هڅه وکړئ، چې د یوه نږدې ملګري په مرسته د خپلې مسئلې حل پیدا کړئ، په دې کار سره مو نه یوازې دا چې مسئله حل کېږي؛ بلکې ذهن مو هم ارامولی کوي.

د غوسې په حالت کې ښه خبره دا ده، چې کتاب مطالعه کړئ او یا په یوه خوندور کار کې ځان بوخت کړئ، یا لیکل پیل کړئ، چې په دې سره د غوسې شدت په ډېره کچه را کمېدلی شي.

د غوسې د له منځه وړلو بله غوره لاره چار دا ده، چې په کوم ځای کې تاسو غوسه شوي یاستئ، هغه ځای پرېږدئ او کوم بل ځای ته لاړ شئ، په دې لارې چارې سره ستاسو پام له غوسه کوونکي حالت څخه په بله اوړي، په جذباتو واک پیدا کوئ او ډېر ژر مو نورمالوي.

Downloaded from: ketabton.com



# خپل مسوولیتونه درک کړئ

تاسو چې په خپل ژوند کې څه ډول مقام لرئ، یا څه ډول یاستئ، دا هرڅه تاسو په خپله ترسره او مسوول يې یواې تاسو یاستئ.

ستاسو ننني ژوند ستاسو د تېرو خیالاتو او عمل پایله ده، ستاسو خیالات او احساسات ستاسو په واک کې دي، څه ډول کار ترې اخلئ، پرېکړه يې هم په خپله ترسره کړئ.

تاسو چې څه ډول سوچ یا فکر لرئ، خو مسوول يې تاسو یاستئ، د بریالیو او ناکامو خلکو ترمینځ بنسټیز توپیر دا دی، چې بریالي خلک د خپلو عملونو او پایلو مسوولیت په خپله مني او په خپله بیا او ناکامۍ کې سل سلنه مسوولیت په غاړه اخلي.

د مسوولیت منل یا مسوولیت ته غاړه ایښودل د بریا لومړنی او اړین شرط دی، فکر وکړ، چې که تاسو د ځان لپاره ناوړه حالات رامینځته کولای شئ، همدا ښه حالات هم رامینځته کولی شئ، ناکام خلک خپلو مسوولیتونو ته غاړه نه ږدي او په اصطلاح نه يې مني، دوی تل د خپلو ناکامیو او بدو حالاتو پړه نورو پر اوږو اچوي، خو دېته مو باید پام وي، چې پر نورو خلکو په تور لګولو او پلمو جوړولو

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



کې هم مهارت نه لري او بريا ته په کې نه رسېږي.

تاسو په خپل ژوند کې په درېيو شيانو بشپړ واک لرئ:

۱. خيالات.

۲. تصورات.

۳. عمل (کړه وړه).

تاسو د همدې درېيو شيانو په کارولو سره يا ژوند په ښايسته ډول جوړوئ او يا يې پرې د هلاکت کندې ته غورځوئ، خو پرېکړه يې ستاسو په لاسونو کې ده.

د يوې څېړنې له مخې په ډاګه شوې وه، چې په ناکامو کسانو کې ۹۹ سلنه هغه ول، چې هغوی خپلو مسووليتونو ته په سم ډول وفادار نه وو، بلکې د خپلو ناکاميو مسووليت يې د نورو خلکو پر اوږو اچاوه.

د دويمې څېړنې له مخې مالومه شوې وه، چې ۹۴ سلنه ناکامۍ د هغو خلکو په وسيله رامينځته شوې وې، چې هغوی د هر کار لپاره پلمې او بهانې لټولې، نو ځکه که تاسو غواړئ، برياليتوب ترلاسه کړئ او د اغېزمنو شخصيتونو څښتنان اوسئ، کوښښ وکړئ، چې په نورو نيوکه ونه کړئ، دا کار يوازې ستاسو ارزښتناک وخت ضايع کوي او کومه بله ګټه په لاس نه درځي.

که ستاسو لپاره اوسني حالات يا د ژوند شرايط سم نه وي، نو پر نورو د نيوکې پرځای به ښه دا وي، چې د خپلو حالاتو د سمولو په اړه فکر وکړئ او په دې برخه کې زيار وباسئ.

د حالاتو د بدلولو لپاره ځان ته بدلون ورکړئ او که غواړئ، د ځان

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



لپاره سم شرایط برابر کړئ، نو لومړی ځان سم کړئ او د ځان له سمولو وروسته بیا په دې برخه کې اقدام وکړئ.

په یاد ولرئ، چې تر هغې به د خپل ژوند ناوړه حالات سم نه کړئ، ځو پورې مو چې لومړی په خپل ځان «ذات» کې سموالی او غوره والی نه وي راوستی او خپل مسوولیتونه درک نه کړئ.

یوازې د یوې لمحې لپاره فکر وکړئ، چې ستاسو ژوند په اوسني حالت کې څه ډول دی؟

تاسو په کوم حالت کې قرار لرئ؟ بریالي یاست او که ناکام؟ خوښ یاست او که ناخوښه؟ شتمن یئ او که غریب؟ په هر لحاظ چې په هر حالت کې وئ، ذمه وار یې ځوک دی؟ په خپل زړه لاس کېږدئ او همدا پوښتنې ترې وکړئ.

بیا هم باید یاده کړم، چې بریالي خلک د خپلو کړنو مسوولیتونه درک کوي، هغوی په دې باور لري، چې هرڅه ورپېښېږي، یا په کوم حالت کې قرار لري، مسوول یې په خپله دی، نه نور خلک.

که تاسو غواړئ، په ټولنه کې د یو اغېزمن او بریالي شخص په توګه خپل ژوند ته دوام ورکړئ، نو د خپلې ناکامۍ پړه په بل مه اچوئ، د ناکامو او نا اهلو کسانو په څېر پلمې مه جوړوئ، بلکې د بریالیو خلکو په شان سل په سلو مسوولیت په خپله غاړه واخلئ او له ځان سره ووایئ، چې:

موږ چې څه ډول یو، یا په کوم حالت کې قرار لرو، مسوولیت یې زموږ پر غاړه دی.

کله چې تاسو مسوولیت ومانه، نو په خپل ځان کې به د پخوا په

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



پرتله ډېر ښه والی او غوره والی احساس کړئ، ستاسې ذهني څرنګوالی به په مثبت ډول بدلون ومومي.

الله تعالی تاسو ته ستاسو د غوره والي او بریا لپاره بې شمېره وړتیاوې درکړي دي، تاسو ته په کار ده، چې خپلې دا وړتیاوې وپېژنئ او د ځان د مثبت والي په لاره کې ترې کار واخلئ.

دا ښکاره خبره ده، چې نور خلک ستاسو وړتیاوې نه شي کارولی او دا وړتیاوې یوازې یو فرد کارولی شي، چې هغه تاسو یاستئ.

انسان یوازې ژوند کولو ته نه دی پیدا شوی، بلکې هغه ته د ژوند تېرولو لپاره یو لړ مسوولیتونه هم ورسپارل شوي دي، انسان باید د خپل ژوند په هدف پوه وي او د خپل ژوند د ښه والي او غوره والي په اړه فکر وکړي.

انسان باید خپل ژوند له خپلې خوښې سره سم جوړ کړي، ستاسو پر وړاندې د ټاکنې چانس شته، خو ژوند چانس نه دی، بلکې انتخاب (ټاکنه) ده، دا به تاسو په خپله انتخابوئ، چې د ځان لپاره څه ډول ژوند برابر کړئ، کوم حالات رامینځته کوئ، خوښ او که ناخوښه، بریالي او که ناکام؟

انسان ته الله تعالی ددې ځواک ورکړی دی، چې هرڅه وغواړي کولی یې شي او تاسو چې د څه په اړه فکر کوئ، هماغسې به جوړېږئ هم.

دا پرېکړه ستاسو په لاسونو کې ده، چې تاسو د خپل ژوند په اړه څه ډول فکر کوئ، دا فکر ستاسو په واک کې دی او تاسو به یې کنټرولوئ، همدا تاسو د خپل نن او خپلې راتلونکې مسوول یاست او

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



په خپله به د ژوند حالات بدلوئ، دا سمه ده، چې تاسو خپل ژوند نه شئ بدلولی او هیڅوک هم دا کار نه شي کولی، خو په خپله راتلونکې په بشپړ ډول واک لرئ، هغه د ځان لپاره سمه جوړه کړئ.

په لنډ ډول باید ووایم، کله چې تاسو خپل مسوولیت وپېژانده، نو ستاسو اروايي ځرنګوالی هم ورسره بدلون کوي، ستاسو فکر او عمل به په مثبت ډول بدلون وکړي او بیا به تاسو د خپلو سمو حالاتو په اړه فکر کوئ او دې فکر ته به د عمل جامه وراغوندئ او لرې نه ده، چې ډېر ژر به په ټولنه کې د یو اغېزمن او بریالي شخص په توګه خپل ژوند ته دوام ورکړئ.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# تعصب

دا نن، چې نړۍ د وينو او اورونو په مينځ کې ګېره ده، دا نن چې هره ورځ زرګونه انسانان په ډېرې بېرحمۍ او وحشت سره وژل کېږي، يو عمده لامل يې تعصب دی.

تعصب بېلا بېل ډولونه او لاملونه لري، خو له ټولو وړاندې به ښه خبره دا وي، چې په خپله تعصب و پېژنو.

تصب په ټولنيزه اروا پوهنه کې يوه ډېره اړينه موضوع ده، چې له کبله يې په ټولنه کې غير معمولي حالاتونه، ستړياوې، خپګانونه او نور رامينځته کېږي او تر ټولو بده خو يې دا ده، چې د خلکو ترمينځ خپلمنځي يووالی او انساني مينه په بشپړ ډول له مينځه وړي.

تعصب د ټولنې يو ډول کشمکش ته هم ويل کېږي، چې په بېلا بېلو ډلو، طبقو، فرقو او قومونو کې شته.

کله چې د يوې ډلې ګټې د بلې ډلې په وسيله زيانمنې شي، يا په کې څه ستونزې رامينځته کړي، نو يو لړ پېچلي څرنګوالي رامينځته کوي، چې بالاخره د جنګ و جدل او شخړو لامل ګرځي.

هره ډله د داسې موقع په لټه کې وي، چې له مقابلې ډلې څخه خپل

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



انتقام واخلي او يا ورته زيان ورواړوي، همدا لامل دی، چې په دوی کې د تعصب جذبه هم پراختيا کوي.

نن سبا تعصب هم د پخوا په پرتله نوې رنګونه راوړي دي او په بېلا بېلو ډولونو سره يې موږ د ټولنې او په لويه کې د هېوادونو ترمنځ درک کولی شو، چې د ژوند په ټولو چارو کې يې په څرګند ډول بېلګې موندلی شو.

د بېلګې په توګه د يوې سيمې افسر به د نورو سيمو په پرتله د خپلې سيمې خلکو ته ترجيح ورکوي، يو چارواکی به ددې کوښښ کوي، چې په ټولو مهمو چوکيو کې خپل خلک ځای پرځای کړي، ددې لپاره چې ټول اختيارات په خپل واک کې واخلي او زموږ تاسو په سيمو کې خلک خپلې کورنۍ (ذات يا نسل) تر نورو لوړې ګڼي، چې دا هم د تعصب ځينې شکلونه دي.

www.meltahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د تعصب ماهیت

تعصب تل زموږ په خوښو او ناخوښو کې پیدا کېږي، ځینې وخت موږ دې پوښتنې ته په ځواب ورکولو کې پاتې راځو، چې یو شی ولې خوښوو؟ یا که د هغه د ناخوښوالي په اړه رانه وپوښتل شي هم ځواب نه ورته لرو، چې دا په خپله د تعصب یو ساده شکل دی.

تعصب دا مانا لري، چې موږ د یو شي یا یو چا په اړه څه ډول نظر لرو، خو دا نظر مو د ډېر وخت لپاره منفي یانې د هغه شي او یا چا په اړه چې نظر لرو، خلاف نظر به لرو.

د تعصب یو بنسټیز لامل دا دی، چې هر شخص یو بېل چاپېریال لري او د هغه اړتیاوې، غوښتنې او هیلې هم د نورو مختلفې وي، په دې صورت کې په نورو د څه نظر لرل یوه فطري خبره ده.

موږ که ښه خویونه لرو یا بد، خو بد خویونه مو باید چې بدل کړو او ښه خویونه په ځان کې وروزو، چې په همدې لاره چاره زموږ په ټولنیز کشمکش کې ډېر بدلون راتللی شي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د تعصب پیل

تعصب پیدا ایښتي دی که اکتسابي؟ دې پوښتنې ته تردې مهاله ټولو اروا پوهانو په یوه خوله ځواب نه دی ورکړی، خو ډېر یې په دې عقیده دي، چې دا یوه اکتسابي جذبه ده او په کوچنیانو کې (له پیدا ایښته) د تعصب ماده شتون نه لري او که وي؛ وي، نو بېلا بېل صورتونه لري او اغېزې یې هم بېلې او جلا دي، خو څه ډول چې ماشوم ورو ورو لویېږي، نو د هغه په تجربو کې دا ناوړه جذبه هم تشکیل کوي.

په هر صورت تعصب یوه فطري ځانګړنه نه ده، بلکې دا یو ټولنیز عمل دی او لاملونه یې هم له ټولنې پیدا کېږي، د بېلګې په توګه په کوچنیانو کې نسلي تعصب له سره شتون نه لري او د هر نسل له ماشومانو سره زړه راښکون ښیي، خو چې کله لویېږي، هغو ته د خپلو کورنیو د غړو له خوا ورښودل کېږي، چې د نورو قبیلو بېلوالی وکړئ او د بېلوالي اصل په دوی کې د تعصب مبدا ګڼل کېږي.

همدا شان په قبیلو کې چې کوم توپیر تر سترګو کېږي، هغه د تعصب لامل نه دی، بلکې پایله ده، شونې ده، ځینې قبیلې تر یوه

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



وخته يوځای ژوند وکړي او په مينځ کې يې توپير معلوم نه شي، خو کله چې يوه قبيله دا فکر وکړي، چې د دوی ترمينځ بايد نور انفراديت پای ته ورسېږي، نو هغه په خپلو لارو چارو سره د بېلوالي هڅه پيل کوي، څو هغه خپل فرهنګ ژوندی وساتي.

د لباس، ژبې، استوګنې، کړه وړه اونورو له کبله موږ دوه قبيلې يوه له بلې سره توپيرولای شو، تور و سپين خلک هم په خپلو کې يو له بل سره لوبې او نور کولای شي، ترهغې چې دوی ته د خپلو رنګونو احساس نه وي شوی.

په ياد ولرئ، چې څوک له موږ نه، نه دی، له هغو نه د کرکې يا نفرت احساس ناسم دی، ځکه موږ ځينې وخت پرديو خلکو ته هم ښه راغلاست وايو، دا سمه ده، چې د نورو راتلل موږ تر هغې زغملی شو، چې په سم ډول راسره وخت تېروي او کله چې له خپل حده پښې وباسي، بيا زموږ د کرکې وړ ګرځي، د مثال په توګه که انګرېزان د تجارت په پلمه زموږ سيمې ته راځي، موږ ورته ښه راغلاست واي، خو کوم چې زموږ ملي حاکميت، ژبې او مذهب ته په سپک نظر ګوري، يا زموږ د سيمې د نيولو فکر لري، نو بيا په دې صورت کې له هغو سره کرکه کول زموږ طبيعي حق دی.

د تعصب په پيدا کولو کې د تجربې پرځای رويه ډېر اغېز لري، له هندو، امريکايي او انګرېز څخه زموږ کرکه د هغو پايله ده.

فرهنګي اثرات هم په دې برخه کې اړين رول لوبوي، لکه څه ډول چې د نزديکت په لحاظ سره موږ مسلمانانو ته لومړی مقام ورکوو، دا اړينه نه ده، چې چېرته او کوم ځای کې ژوند کوي.

Downloaded from: ketabton.com



# په تعصب کې انفرادي اختلافات

د تعصب اچولو يا رامينځته کولو له نظره دوه ډوله خلک شته:
١. ډېر متعصب خلک.
٢. اعتدال خوښوونکي او سوله خوښوونکي.

اعتدال خوښونه او د زغم د برداشت توان هم د بېلا بېلو لاملونو په نظر کې نيولو سره مطالعه کېږي.

کوم خلک چې په ټولنه کې د محرومۍ او نهيلۍ احساس لري او يا رټل شوي دي، هغوی د خپلې ماتې او رټل کېدو لامل نور خلک بولي، پر همدې بنسټ له نورو د کسات او انتقام اخيستلو جذبه لري او پر کمزورو او بېوزلو خلکو ظلمونه کوي، تردې چې ژوند ته يې ګواښ پېښېږي.

ځينې وخت که پر خلکو د ظلم کولو موقع په لاس ورنه شي، نو بيا خپل انتقام د نورو لارو په وسيله ترې اخلي، هغوی پسې ناوړه افواهات خپروي، بدرنګې اوازې پسې خپروي، په سپکه ژبه يې يادوي او تل د هغو د بې عزته کولو په هڅه کې وي

خو په هر صورت هر انسان په بېلا بېلو شکلونو سره د تعصب جذبه

Downloaded from: ketabton.com



ښکاره کوي او ځینې خو ځان ته د وس مطابق زیان هم اړوي، خو هڅه کوي، چې د نورو پر وړاندې معتصب پاتې شي او نوموړې جذبه ځواکمنه وساتي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# د تعصب له مینځه وړل

ځوک چې تعصب کوي، یا تعصب ته لمن وهي، په ذهني توګه تر بلوغت نه دي رسېدلي، یا ذهن یې ډېر کمزوری وي، دا ځکه چې ځوک په ذهني او احساساتي ډول پوخوالی ونه لري، نو شونې ده، چې په خپل دننه کې د تعصب ناوړه جذبه له مینځه یوسي.

هڅه وکړئ، چې په ځان کې د زغم وړتیا پیدا کړئ، د نورو د نیوکو پر وړاندې له زغم څخه کار واخلئ، که تاسو خپلې غلطۍ درک کړې او نورو ته مو په ښه نظر وکتل، نو په خپله به ستاسو په دننه کې د تعصب جذبه سړه شي.

د تعصب د له مینځه وړلو لپاره په داخلي او نړیواله کچه د بېلا بېلو ټولنو جوړولو ته اړتیا ده، د دا ډول ټولنو په سر کې باید سپېڅلي او انسان دوسته انسانان قرار ولري، دا ډول کسان باید په هیڅ صورت کې له مذهبي، قومي، ژبني، کولتوري او نورو په برخه کې له انسانانو سره تضاد ونه لري او داسې پروګرامونه وړاندې کړي، چې په خلکو کې د مینې، خواخوږۍ او انسان دوستۍ جذبه پیدا او پیاوړې شي.

Downloaded from: ketabton.com



په دې برخه کې تر ټولو بنسټيز ټکی دا دی، چې د خلکو اړتیاوې په اسانۍ سره پوره شي، یا خلکو ته داسې رنامې په کار واچول شي، چې له مخې یې اړتیاوې په اسانۍ سره پوره کېږي، د خان او غریب ترمینځ توپیر له مینځه یوړل شي، ټولو ته غوره موقع په لاس ورکړای شي او ټولو ته په یوه سترګه وکتل شي.

ښه زده کړه، غوره دنده، مناسب کور، ټولنیز عزت چې دا ټول د هر چا لپاره په ځانګړي ډول برابر نه کړای شي، تر هغې د تعصب له مینځه وړل ستونزمن کار دی.

په دې برخه کې د ټولنیزو او اقتصادي فاصلو رالنډول هم یو اړین ګام دی، ځکه څومره چې د خلکو محرومیتونه لږېږي او اړتیاوې یې پوره کېږي، په هماغه کچه دا ناوړه جذبه کمېږي، خو له ټولو سره سره په دې اړه فکر کول، چې یو وخت تعصب په بشپړ ډول له مینځه ځي او په نړۍ کې به یو معتصب کس هم نه وي، بېځایه او ناسم فکر دی، ځکه تعصب زرګونه داسې شکلونه هم لري، چې تر پایه به یې په کې اغېزې ژوندۍ پاتې کېږي، خو زموږ به دا هم ډېره لویه هڅه وي، چې د خان او غریب، تور و سپین او نورو ترمینځ کرکه او تعصب له مینځه یوسو او همدا اوس یې له ځانه پیل کړو.

www.meltahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# ځان ته مشوره ورکول زده کړئ

یو پوه وايي: (په خپل ذهن کې لوړ خیالات وروزئ.)
که تاسو په خپلو لوړو خیالاتو باور پیدا کړ، نو باور وکړئ، چې ناشونی کار به ترسره کړئ.

موږ د خپل پرمختګ په لاره کې یا له ځان سره مرسته کوو او یا راته په کې خنډونه ایجادوو، خو دا پرېکړه یوازې زموږ په خیالاتو پورې تړلې ده.

هیڅوک به تر هغې له ځان سره مرسته ونه کړي اونه د بریا مخ وګوري، څو پورې هغه په خپل ځان باور ونه لري او موږ ټول چې په خپل ژوند ډېر څه نه شو کولای، یا یې نه شو لاسته راوړلی، دا یوازې زموږ د باور کمښت دی.

د خپل ذهن، خپل فکر، په مثبت ډول روزل او ځان ته په خپله د سمې مشورې ورکول په موږ کې د باور او ډاډ عنصر رامینځته کوي او پرمختګ ته مو هڅوي.

د بېلګې په توګه موږ غواړو د ځوانانو د ستونزو په اړه وینا وکړو او موږ په دې برخه کې په خپل ذهن کې کافي مواد هم لرو او ښه لیکنه

www.meltahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



هم په کې کولی شو، خو د پرځان باور د کمښت له امله به موږ د ځوانانو په غونډه کې ګډون ونه کړای شو.

موږ باید په خپله ځان ته ډاډ ورکړو او ویې ستایو، ځان ته مشوره ورکړو، چې موږ هر کار په سم ډول ترسره کولی شو، څه ډول چې نور فکر لري، هماغسې الله تعالی موږ ته فکر راکړی، چې باید په مثبت ډول ترې کار واخلو.

موږ باید د ځوانانو له غونډې مخکې ځان ته مشوره ورکړو، چې:

«زه په خپل ځان باور لرم، زه په ذهني او اروايي ډول وینا کولو ته تیار یم، زه به ډېره ښه وینا وکړم، د اورېدونکو جذب به مې ښېخي ډېر وي، هرڅوک به راته غوږ؛ غوږ وي، زه له وینا کولو سره مینه لرم.»

دا ډېر اسان کار، دا خبرې بیا بیا خپل ځان ته ورکړئ، چې په دې سره ستاسو شته داخلي وېره کمېږي، ډاډ درکوي او ډېر په ښه شان به د ځوانانو پر وړاندې موسکې شونډې وینا وکړئ.

که تاسو د کوم کار له پیل کېدا وړاندې یوازې دا جمله چې «زه به بریالی کېږم» په خپل زړه کې بیا، بیا تکرار کړ، نو خامخا به تاسو په خپل کار کې بریالي کېږئ.

ډاکټر سموییل وايي: «تخیل عمل ته توان وربښي، په حقیقت کې د یوې خبرې د بیا، بیا تکرارولو موخه دا ده، چې دا په ذهن کې روزونکي خیال ته توان ورکوي او ځواکمنوي یې.»

په ذهن کې همېشه رغوونکو او مثبتو خیالاتو ته ځای ورکړئ، په خپله خپل ځان ته ډاډ ورکړئ او ووایئ، چې زه پرځان باور لرم.

تاسو د وړتیا او صلاحیتونو څښتنان یاستئ، تاسو کولی شئ، په

www.milltahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



ډېر منظم او ښه شکل سره خپل مسایل حل و فصل کړئ، خپل ځان ته په ټیټه سترګه مه ګور او ځانونه د کمترۍ له احساسه ازاد کړئ.

ځان د همېشه لپاره له قاره ډک، حوصله ناک، زړور او جاذب احساسوئ او په خپل ذهن کې د ځان لپاره هغه تصور ساتئ، چې تاسو یې په راتلونکي کې تمه لرئ، که تاسو خپل ځان ته د مثبتو مشورو ورکولو چل زده کړ، نو خامخا به مو ژوند له رنګینیو او خوښیو ډک وي او تل به د بریا او پرمختګ احساس لرئ.

کاشکې ټول خلک په دې پوه وای، چې ځان په خپله مثبتې او رغوونکې مشورې ورکړي، کوم خلک چې په دې هُنر پوهېږي، هغوی یې له ژورو او هر اړخیزو ګټو هم ښه خبر دي، دوی د وېرې او کمترۍ احساس نه لري، په خپل ځان یې پوره باور وي او د شخصیت په جوړولو کې په خپله خو ښه کار اخلي.

باور وکړئ، چې ستاسو دا عمل به بېځایه پایلې ونه لري، دا یو له باوره ډک او مثبت عمل دی، دا مور ته هیلې راکوي، هیله په خپله یو رغوونکی فکر دی.

www.meiitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# څه ډول پر نورو اغېز وکړو؟

اوس به تاسو کتاب لوستی وي او په دې برخه کې به مو ډېر څه تري زده کړي وي، خو لاندې جملې بيا بيا ولولئ او خوند ترې واخلئ:

- د ځان د پاکوالي ډېر خيال وساتئ، کوښښ وکړئ، چې مناسب لباس، مناسب بوټونه او نور وکاروئ، د وېښتانو، نوکانو، غاښونو او په ټوله کې د بدن پاکوالي ته ځانګړی پام وکړئ.

- خپل ځان ومنئ، خپل مسووليت وپېژنئ، ځکه د خپلې خوښۍ، خپګان، بريان، ناکامۍ او په ټوله کې د خپل ژوند مسووليت ستاسو پر غاړه دي.

- خپل زړه پاک وساتئ، ذهن ته مو ناوړه خيالات مه دننه باسئ، په پاک زړه او سپېڅلي وجدان سره خپلې ټولې ورځنۍ چارې سمبالوئ.

- خپله دنده په سم ډول پرته له تمبلۍ ترسره کړئ، هيڅکله په خپلو در سپارل شوو کارونو کې ځانونه کم مه راولئ.

- خپلې تېروتنې ومنئ، د ځان د سمون او اصلاح په فکر کې شئ، نورو ته ګوته مه نيسئ او تل په دې هڅه کې شئ، چې ځان جوړ کړئ او له ځان جوړولو وروسته بيا د نورو د جوړېدو په فکر کې شئ.

Downloaded from: ketabton.com



- د نـورو پـه شخصـي مسـايلو او شخصـي سـامان الاتـو، لکـه د يادښت کتابچه، ټليفون، کمپيوټر او نورو کې د هغوی له اجازې پرته لاس مه وهئ.

- هيچاته د کرکې پـه سرته مـه ګورئ او هيڅوک د ځان دښمن مـه تصوروئ، تل له نورو سره مينه وکړئ، مرسته ورسره وکړئ او پـه خپل ذات کې د انسان دوستۍ حس وروزئ.

- له هيچا سره په خپلو ورځنيو چارو کې لـه منفي رقابتـه کـار مـه اخلئ، تل د مثبت بدلون، ودې او پرمختګ په اړه فکر وکړئ او خپلـه انرژي په نېکو کارونو کې مصرف کړئ.

- په خپله نا سمه خبره مه کلکېږئ، د نورو خبرو ته هم غـوږ ونيسـئ او احترام يې وساتئ.

- هيڅکله د نورو د پرمختګ په لاره کې مزاحمت مه کوئ او هڅـه وکړئ، چې ستاسو شتون د نورو لپاره د سردردۍ لامل جوړ نه شي.

- تل له نورو سره د خواخوږۍ او صله رحمۍ له مخې کـار اخلئ، د هر چا د ښو کارونو ستاينه کوئ او له هر چا سره خپل زړه راښکون او لېوالتيا وساتئ.

- خپل ذات ته اهميت ورکړئ، په ښه سترګه ورته وګورئ، درنښت يې وساتئ.

- په ذهن کې خوښ او رغوونکي خيالات وساتئ، منفي او بدرنګو خيالاتو ته په ذهن کې ځای مه ورکوئ، ځکه بدرنګ خيالات له انسانه بدرنګې کړنې رامينځته کوي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# هغه هېر کړئ...!!!

دا ليکنه ښايي ډېره وړه وي، خو د مينځپانګې او محتوا له نظره به د يو پېړ (ستر) کتاب ځواب ووايي.

زموږ ژوند په پرله پسې ډول د بدلون په حال کې دی او هره دقيقه وروسته په کې بدلون رامينځته کېږي او وخت راځني په منډه دی.

که موږ نن ډېر خوشحاله يو، ښايي ګړۍ وروسته په ژور غم کې ولوېږو، يا که موږ ډېر خوشاله يو او يا خدای مه کړه، غمژن ياست، و خو دا به دا مانا ولري، چې موږ به تر پايه په همدې حالتونو کې پاتې کېږو، بلکې دا دواړه حالتونه د بدلون په حال کې دي او ژر تېرېږي.

د قدرت په تخليق کې يو شی هم په ثبات نه شي پاتې کېدای او هر مادي شی د بدلون په حال کې دی.

که څوک په ستره ستونزه کې ګېر شو، يا په واړه ستونزه کې، خو ډېر ژر ترې ځان خلاصولی شي، ځکه چې دا دواړه ډوله ستونزې تېرېږي.

که ستاسو ذهن هم همدا اصل منلی وي او يا مو له ماسره پورته

Downloaded from: ketabton.com



یادو حقیقتونو ته غاړه ایښې وي، نو بیا په ما پسې راشئ.

راشئ، چې د ژوند په یو بل اړخ هم لږه رڼا واچوو!

تاسو پوهېږئ، چې کله کله هره یوه وړه خبره هم خپه کوي، وړې وړې پېښې مو داخلي سکون له مینځه وړي او په وېره، غم او اضطراب مو اخته کوي، خو دا هرڅه، څه شی دی...؟

ځواب یې ډېر ساده دی... فکر پرې وکړئ.

یانې دا ټولې هغه جذبې دي، چې زموږ خوښ او خوږ ژوند له زهرو ډکوي، له موږ ناکاره انسانان جوړوي او د ژوند په ډګر کې مو له منډې وهلو وباسي، یانې مغلوبوي مو.

خو که تاسو دا هم پېژنئ، نو بیا ترې ځان ولې نه ساتئ؟! داسې جذبې بېا له خپل دننه نه ولې وباسئ نه؟! له هغو سره مخه ښه ولې نه کوئ؟!

ښه به دا وي، چې دا ناوړه او منفي جذبات وپېژنئ، خپل دماغ ترې پاک کړئ، ذهن مو ترې آزاد کړئ او هېر... یې کړئ!

خو... کله... یې هېروئ؟!

همدا اوس یې له ځان سره د هېرولو ژمنه وکړئ، بل وخت ته یې مه پرېږدئ، بلکې همدا اوس یې د تل لپاره هېرې کړئ.

داسې یې هېرې کړئ، چې بیا تر عمره دریادې نه شي، چې په همدې کار (هېرولو) کې ستاسو خوندیتوب پروت دی.

که تاسو د ځان لپاره دا وړې، وړې خبرې او وړې وړې پېښې سترې کړئ، یا مو خپلې ارواوې پرې ایاسرې کړې، نو ستاسو په دماغو او ذهنونو کې به ریښې وغځوي، تسلط او واک به پرې پیدا کړي، چې

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



بيا په آسانۍ پرې نه شئ برلاسي کېدلای.

بيا به دا ناوړه خيالات او احساسات په اوونيو اوونيو، بلکې په مياشتو، مياشتو ستاسو پر ذهنونو مسلط وي، خپه کوي به مو، رنځوي به مو او بالاخره به مو له ژوند څخه بېزاره کوي.

اوس خو پوه شوئ، چې دا ناوړه جذبات څومره وېروونکي او روايي قاتلان دي، نو ولې ورته په خپل دماغ کې ځای ورکوئ؟ ولې يې د هېرولو فکر نه کوئ؟! ولې پرې خپلې خوښۍ بربادوئ؟ ولې ترې ځانونه نه ازادوئ او ولې پرې د خپل عمر ارزښتناکه لمحې وژنئ؟!

په ياد ولرئ، چې ستاسو په ژوند کې يوه لمحه هم ډېره ارزښتناکه او لوړه بيه ده، کومه لمحه چې ستاسو له لاسه ووته، هغه درته بېرته نه راګرځي.

دا يوه لمحه د ژوند د ټولو شتمنيو او ثروتونو ارزښتمنه ده او هيڅوک به دا راته ثابته نه کړي، چې هغه دې ګټې د خپل ژوند تېره لمحه راګرځولې وي، خو بيا ولې د خپل وخت په قدر نه پوهېږئ؟

که فکر وکړئ، تاسو د خپل ژوند ارزښتمنې لمحې په ډېرې بې دردۍ او ډېرې بې قدرۍ سره ضايع کوئ، ايا تاسو تر اوسه د خپلو ارزښتمنو لمحو د ارزښت احساس نه دی کړی؟

که چېرې تاسو له خپل ژوند سره مينه لرئ، که چېرې تاسو د خوښ او خوړ ژوند د تېرېدو تمه لرئ، نو وړو وړو خبرو ته په خپل ذهن کې ځای مه ورکوئ.

دا غوسې، رنځونه، خپګانونه، بېځايه شکونه، ناوړه فکرونه، نهيلۍ او ناډاډمنتياوې ټول زموږ ناوړې جذبې دي، دا هرڅه زموږ د

Downloaded from: ketabton.com



اروا او جسم دښمنان دي، زموږ د خوښيو او هوساينو دښمنان دي او زموږ د ژوند دښمنان دي.

د خپل ژوند خوښۍ او هوساينې مو په لوی لاس ددې جذباتو په وسيله مه قربانوئ، د ژوند په رېښتوني ارزښت پوی شئ او له ټولو ناوړه او منفي جذباتو سره خدای پاماني وکړئ، هغه هېر کړئ او ذهن ترې ازاد کړئ، که ستاسو ذهن ته په کومه شېبه منفي او خپه کوونکې جذبه دننه کېده، سمدلاسه يې ترې وباسئ او هېره يې کړئ.

د خپل ژوند په ارزښت پوه شئ، قدر يې وکړئ او تل په دې هڅه کې شئ، چې د ژوند هره شېبه درته ښکلې او له خوښيو ډکه جوړه کړئ.

منفي جذبې له ځانه وشړئ، په خپل دننه کې يې له مينځه يوسئ او هيڅکله خپل ځان د هغو تر واک او تسلط لاندې مه راولئ.

ژوند ډېر ښکلی دی، د بدرنګولو هڅه يې مه کوئ.!!!

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



# هغه وزغمئ!

موږ بايد هغه وزغمو.

موږ بايد له هغو سره مقابله وکړو.

په نړۍ کې د ناسميو، خپګانونو او اروايي ګډوډيو خپور شوی جال ثانيه په ثانيه پراخوالی کوي او زموږ اروا وې را ايساروي.

موږ بايد د خپګانونو، نهيليو، رنځونو، ناډاډمنتياوو او دېته ورته ټولو ناخوالو سره مقابله وکړو او په ځان کې يې د زغم توان پيدا کړو.

زموږ په نړۍ کې ډېر ناخوښه مسايل شته، چې خپه کوونکې خبرې اورو، غموونکې منظرې ګورو، د ژوند حالات مو د ناوړتيا لوري روان دي، خپګانونه او ذهني فشارونه مو ورځ تر بلې ډېرېږي.

خو له دې سره سره به داسې لږ خلک وينو، چې هغوی ناخوښه وي، ياني د ناخوښه کسانو تناسب ډېر لږ دی.

يو هيله من انسان په ډېره خوشحالۍ او له ولولو څخه په ډکه لهجه وايي: ژوند څه شی دی؟ (د يوې ډکې پيالې په شان)، خو ښايي له ده

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



څخه به دا ټکی له پامه وتی وي، چې په دې پياله کې څو دانې شګې هم شته.

مارکس آريلي اس (Marcus Aurelius) په پخواني روم کې يو ډېر ذهين او هوښيار واکمن تېر شوی، په ډېرو تاريخي کتابونو کې د نوموړي د تدبر او مفکرتوب داستانونه موندل کېږي، خو لاندينی وينا يې يوه نړۍ رازونه په ځان کې رانغاړي:

(زه د نن سبا له خلکو سره ناسته پاسته لرم، چې ډېرې خبرې کوي، ډېرې احسان هېروونکې او ځان غوښتونکې ځانګړنې لري، ځان ښودونکي او جګړه مار دي، خو زه د دوی په دې ټولو ناوړه خويونو د خپګان احساس نه کوم او نه ورته حيرانېږم، ځکه د داسې يوې نړۍ په اړه مازې تصور هم نه شم کولای، چې هلته دې خلک نه وي.)

اوس موږ بايد د ناخوښه حالاتو، خپه کوونکو پېښو او دا ډول خلکو سره ډول چلند وکړو؟

څه ډول پرې لاسبري شو؟ څه ډول يې کابو کړای شو؟ خو موږ دا ډول خلک او حالات په دوه برخو وېشو، چې يا به يې تر واک لاندې راولو او يا به ترې تېښته کوو.

په لومړي ډول کې يې هغه خلک، پېښې او حالات شامل دي، چې د دوی د سمون او رغېدا لپاره کوم بنسټيز کارونه نه دي ترسره شوي او يا يې سمون تر ډېره حده ناشونې شوې ده او موږ يې دېته تسليم کړي يو، چې وو ايو:

(د داسې حالاتو يا داسې خلکو سمول زموږ له وسه بهر کار دی.)

که موږ همدا فکر وکړو، نو ستونزې مو نوره هم ډېرې کړې، ځکه بيا

Downloaded from: ketabton.com



هغوی خپلسري کېږي او لا مو ژوند له ناخوالو سره مخ کوي، خو اوس په دې اړه ستاسو نظر څه ډول دی؟

ایا تاسو دا خواب ورکړئ، چې د داسې خلکو یا حالاتو اصلاح دې ونه شي؟ که تاسو په همدې فکر یاستئ، نو دا مو ښه فکر نه دی، بلکې منفي فکر دی، داسې فکر بیا سراسر خپلو ځانو ته د دوکې ورکولو په مانا دی.

انسان دی، که حالات، خو زموږ او تاسو په هڅه دواړه د سمون خواته تلای شي، په دواړو کې ښه والی او غوره والی راتلی شي، موږ باید له دې حقیقت څنې سترګې پټې نه کړو، باید غاړه ورته کېږدو او د مبارزې لپاره یې هڅې پیل کړو.

باید په دې پوه شو، چې له دېوالونو سره په سر جنګولو به کومو ښو پایلو ته ونه رسېږو، که په موږ تاسو کې څوک خپل سر له دېوال سره جنګوي، نو دا به دا مانا ونه لري، چې ګنې ستونزه یې حل شوه، بلکې حل یې په دې کې دی، چې موږ هغه له سر جنګولو وژغورو او په دې یې پوه کړو، چې ته څه کوې، ستا د ستونزې حل لاره نه ده.

ستونزې په غور او فکر سره حلېږي، زما نظر دا دی، چې تل باید په دې کار کې هڅه وکړو، چې خلک هم سم کړو او حالات هم.

اوس به لږ د ستونزې د حل په اړه وغږېږو، فرض کړه، همدا ته (لوستونکی) په کومه ستونزه کې پروتی، یا په ناوړه حالاتو کې را ایسار شوی، نو له ځانه به څه ډول غبرګون وښیې؟!

ښه فکر پرې وکړه...!

زه هم یو څه درته وایم، خو لومړی د ستر ارواپوه ښاغلي ولیم جیمز

Downloaded from: ketabton.com



يوه ارزښتناکه وينا ليکم:

(کله چې په يوه ستونزه کې پرېوتئ، نو چيغې مه وهئ، ځان او نور ته ښېراوې مه کوئ او مه له خولې ناوړه لفظونه وباسئ، بلکې ستونزه مو ومنئ او غاړه ورته کېږدئ، ګټه به يې دا وي، چې تاسو بيا په راتلونکي کې په اسانۍ سره په ستونزه کې نه پرېوځئ او هر ډول حالاتو به مخکې له مخکې وينښ او حساس وئ.)

زه به يوازې دومره ور ډېر کړم، چې:

(تاسو، چې په کومه ستونزه ګېر ياستئ او يا درته پېښېږي او تاسو ورته کومه حل لاره هم نه شئ موندلی، نو ددې سونزې رېښتونې او تر ټولو اسانه حل لاره دا ده، چې له هغې سره مقابله کول پرېږدئ، غاړه ورته کېږدئ، درک يې کړئ، چې بيا ورسره په راتلونکي ژوند کې مخامخ نه شئ.)

خو...؛ داسې هم نه ده.

کله چې ستاسو پر وړاندې يوه دروازه بندېږي، نو هغه بله دروازه به درته خامخا خلاصېږي، د خلاصې دروازې لټون وکړئ او ځان د ستونزې له زندانه ازاد کړئ.

اوس راځئ، چې د ستونزې د له مينځه وړلو په يوه بله لاره چاره هم رڼا واچوو:

۱. ستونزه څه ده؟ دې پوښتنې ته په سم ډول ځواب پيدا کړئ، له ځواب موندلو وروسته هغه د يو کاغذ پر مخ وليکئ، خو هيڅکله د خپلې ستونزې په حل پسې په سملاسي ډول (يو دم) مه اړم کېږئ، يانې لومړی يې په سم ډول وليکئ، روښانه روښانه اړخونه يې په ښه

Downloaded from: ketabton.com



شان سره تر غور لاندې ونيسئ، کوښښ وکړئ، چې هيڅکله د خپلې ستونزې اړين اړخ درنه پاتې نه شي.

چارلس کټرينګ به ويل، چې: که موږ خپله ستونزه په ښه شان سره وليکله، نو داسې وګڼئ، چې موږ خپله ستونزه تر نيمايي حل کړه، نو ځکه بايد خپله ستونزه په لنډ شکل سره وليکو.

۲. دا هم وليکئ، چې ستونزه مو د کومو لاملونو پر بنسټ رامينځته شوې ده؟

خو...!

- يوازې حقيقتونه وليکئ.

- هيڅ شی هم له پامه مه غورځوئ، يانې هرڅه سم وليکئ.

- هيڅ خبره يا لامل هم بې ارزښته مه بولئ.

- د ليکلو وړاندې بايد په دې باور ورئ، چې ټول به حقيقتونه ليکئ، هر څه پاک پاک او له مبالغې پرته وليکئ.

- يوازې يې بې وخته حل ته اهميت مه ورکوئ او مه پرې وړاندې له وخت څه نظر ورکوئ.

- په دې هم ځانونه باوري کړئ، چې تاسو هره خبره پرته له مبالغې او خاطره ليکلې ده.

د کولمبيا د پوهنتون نامتو استاد ښاغلي هربټ هاکس به ويل، چې:

«په نړۍ کې نيمايي ستونزې داسې دي، چې له وخت څخه د وړاندې پرېکړو په پايله کې رامينځته شوې وي، هره خبره، چې د فکر، غور او حقيقت پرته رامينځته کېږي، ستونزه جوړوي، خو که د

www.melitahrik.com 0777 400 116

Downloaded from: ketabton.com



ستونزې رېښتونې لاملونه پیدا شي، نو ډېر ژر به یې حل لارې هم پیدا شي.)

د هربټ هاکس له وینا مالومولای شو، چې د هرې ستونزې حل د هغې په لاملونو پورې تړلې دي.

۳. د ستونزې هره شونې حل لاره هم ولیکئ: له کومې ستونزې سره چې مخ یاستئ، ښه غور پرې وکړئ او بیا یې شونې حل لاره پیدا او ولیکئ، په خپله ستونزه د یو وکیل په څېر بحث وکړئ، له لنډو دلایلو وروسته پرې د مخالف وکیل په شان بحث وکړئ او دا هم ولیکئ.

۴. ستاسو په نظر چې کومه حل لاره غوره وه، هغه ورته وټاکئ او عملي جامه ور واغوندئ، که بیا هم ډاډه نه شوئ، نو هغه پرېږدئ او د یو څه وخت لپاره ارام وکړئ، ذهن مو له ناوړه فکرونو پاک کړئ او داخلي سکون ترسره کړئ.

د سکون له لاسته راوړلو وروسته پرې بیا غور وکړئ او حل لاره ورته پیدا کړئ، خو دا ځل پرې خامخا عمل وکړئ، چې ان شاء الله تعالی په ډېرې بریا سره به یې حل کړای شي.

د ژباړې پای

www.melitahrik.com 0777 400 116

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - ebooks library**